
د ننګرهار پوهنتون د ۵۰ کلیزې په ویاړ



# ۱۸ ناولې قاتلين

د نړۍ غوره جنايي ناول

ليکوال: مايک هامر
ژباړن: محب الله (الله يار)

# ۱۸ ناولي قاتلين

## (د نړۍ غوره جنايي ناول)

لیکوال: مایک هامر
ژباړن: محب الله (الله یار)

برېښنايي : عزت الله سلطانزي

www.facebook.com/Ezatullahsultanzai
https:t.me/Ezatullah_sultanzai
0093706912702

# د کتاب ځانګړنې:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ۱۸ ناولي قاتلین (ناول) |
| لیکوال: | مایک هامر |
| ژباړن: | محب الله (الله یار) |
| خپرندوی: | مومند خپرندویه ټولنه-ننګرهار |
| بریښنالیک: | momand.books@gmail.com |
| کمپوز چارې: | ژباړن |
| ډیزاین چارې: | رحمن الله بهیر |
| چاپ کال: | ۱۳۹۳ل |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ (یو زر) |
| چاپ وار: | لومړی |
| چاپځی: | مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه-ننګرهار |



د چاپ ټول حقوق یې له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

BAWAR LIBRARY

باور کتابتون

FB:Ezatullah.sultanzai

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ

هغو سپېڅلو ارواوو ته چې په تېروتنې او یا د جبر په اساس
د ناولي شهوت قرباني شوي

❋❋❋

په داسې حال کې چې تمانچه مې په خپلو ګوتو کې اړوله را اړوله دننه مې خېز کړ او په لوړ غږ مې وویل: پانچو ؛ زه تا وژنم، همغه ډول چې ستا دوه نور ملګري مې ووژل !

غږ مې په دهلېز کې انګازې وکړې او په کونجونو کې تاو را تاو شو، چاپېریال تیاره او ډاروونکی و ؛ خو ما د دغه چټل جنایتکار د بدن بوی په اسانۍ سره حس کاوه.

له نیویارکه تر دې ځایه (مکسیکو) مې څارلی و او غوښتل مې د همغې ښېوزلې نجلۍ غچ ترې واخلم چې دده او دده د ملګرو بې رحمانه تېري وروسته یې په داسې نامردۍ سره وژلې وه چې د کمبختې خبرې پېژندنې هم د بر وخت و نیوه. نجلۍ چې ۱۲ کاله عمر یې لره، صرف ۱۲ کاله ! چې همدغې موضوع زما د غچ اخیستو اور لا تازه کاوه.

پانچو د دغه بې ساري جنایت وروستی کس و او انګېرله مې چې دهغو دوو نورو په څېر به دی هم زما په لاس وژل کېږي یو ځل بیا مې

په لوړ غږ وويل: پانچو ؛ د خان پښتولو هغه دې ببخايه ده ، زه تا هرو مرو پيدا کوم.

گمان مې کاوه چې په کوم ځنګ کې ناست او وېرې اخيستي په دې تمه دی چې د مناسب فرصت په موندلو سره مې تر بريد لاندې راولي.

دغه ستر ګدام (زېرمتون) يو ځمکتلی هم درلود ، چې ارووم لوموړی پاس منزل او بيا ځمکتلی و پلټم، په احتياط سره مې له خپلې مخې پيل کړه، شاو خوا مې هم څارله. لا د ګدام مخې ته نه وم رسېدلی چې د مرميو غږ پورته شو ، اوږې مې سوی وکړ ، ډزې له لاندې پوړ څخه وشوې، په بېړه مې ځان پر ځمکه وغورځوه او په سينه يوې څنډې ته شوم. اوس مې د کټارو (او سپنيزو پنجرو) په مرسته کولی شو خپل مقابل لوری په ډېرې اسانۍ سره ووينم، ځان يې د برنډې لاندې تياره کې خوندي کړی و.

په خوښۍ سره مې تمانچه کمربند کې وتمبله (وځړوله) کوم کار مې چې غوښتل شروع يې کړم شايد عاقلانه وو ؛ مګر کولای يې شو موخې ته مې ورسوي چې هغه د پانچو موندنه وه. تنفس مې په سينه کې بند کړ او په ډېرې چټکۍ مې ځان له کټاريو هاخوا تېښت ځای ته د کب په څېر وغورځوه. ځای لوړ و ؛ خو له نيکه مرغه چې پر مځکه روغ او جوړ ولوېدم.

اصلاً يې په دومره بې پروايۍ په دام کې د کيوتو هېڅ تمه نه لرله، مخکې تر دې چې د خلاصون چانس ترلاسه کړي، همغسې چې ځان يې غورځولی و، ځو پرلپسې درانه سوکان مې پر مخ ورواهه او په لاس کې نيولې تمانچه مې ترې واخيسته، وېرې او ژور درد يې وجود کې غزونې کړې وې، ډېر ژر پوی شوی و چې خپله د قانون پلې کولو ته غاړه کېږدي، په خورا بايللې څېره او عاجزۍ يې وويل: نه، مامه وژنه! په ما رحم وکړه!

دا وخت مې د هغې نجلۍ معصومه او وحشت ځپلې څېره مخ ته ودرېده چې لغړه او بې پته بڼه يې لرله

تمانچه مې په سينه ورکېښوده او په قهرجنه لهجه مې وويل: مګر تا په هغې نجلۍ رحم کړی؟ مخکې له دې چې خواب راکړي ماشه مې کېکاږله او تولې مرمۍ مې په سينه ورخالي کړې. دا يوازې د غچ اخيستو له درده وو. نور باوري شوم چې د هغې نجلۍ روح به د تل لپاره ارام شوی وي. څو شېبې وروسته له ډېرې ستړيا د ځمکې په مخ وغورځېدم.

څو ساعته کېدل چې نيويارک ته راغلی وم؛ خو تراوسه د خپلې خوږې مينې (ولدا) له ليدو برخمن شوی نه وم. پرېکړه مې وکړه چې تر استراحت او ځان پريمينځلو وروسته يې ليدو ته لاړ شم ومې لمبل او له کوره د وتو تابيا مې وکړه، چې نا څاپه ټېلفون وشرنګېد، غوږۍ مې پورته کړه.

د ودانۍ څوکيدار و، ترسلام او روغبړ وروسته يې وويل:

-ښاغلی هامر تشريف مو راوړی؟

- هو، ولې نه پوهېږې چې له خپل استوګن ځای نه درسره خبرې کوم!

- قربان، يوه ځوانه ښځه من ستاسې د ليدو غوښتنه لري.

اعتراف کوم که په دې وخت کې يې ويلي وای چې د منځني عمر لرونکی شخص يا زړه سپين سرې ښځه غواړي ما وويني؛ نو منلې به مې نه وای؛ خو په دې دوه اونيو کې له نيويارکه لرې او په کار کولو پوره ستړی شوی وم؛ مګر د يوې ښکلې ځوانې او احتمالاً ښکلې ښځې- که زما پرځای تاسې هم وای- بلنه به مو نه وه رد کړې همداسې ده کنه؟!

په داسې حال کې چې غوږ مې په لاس کې وه څوکیدار ته مې وویل:

هغه زما خونې ته راولېږه!

تر دې وروسته د هېنداري په لور ورغلم او خپلې څېرې ته خیر شوم، د دغو دوو اونیو سترېیا او ستونزو راباندې پوره اغېز پرېښی و؛ خو بیا هم خوښوم چې د هغې ښوزلې نجلی غږ مې د هغه له قاتلینو واخیست او هغه هم په هغې بڼه لکه څنګه چې مې زړه په خپل لاس غوښتل.

په دې وخت کې د خونې ور پرانستل شو او ځوانه مېرمن دننه راغله له مبالغې پرته دا هغه مېرمن وه چې څوکیدار یې په اړه ویلي وو، لوړه ونه، سره طلایي وېښتان، ښکلې نازک بدن، پام اړوونکی سلوک، اروپایي ډوله او ظاهراً سوېسی تبعه په ټول ظرفیت سره نېږدې راغله؛ کله چې ما ته یو ګام رانېږدې شوه نو په زړه وړونکې لهجه یې وویل:

- ښاغلی مایک هامر؟!

- هو، اغلې زه "مایک" یم مهرباني تاسې هم وواياست چې له چا سره د خبرو ویاړ لرم؟

- زه (فرانسیس-لي) یم...؟

- په لیدو مو خوښي احساسوم، مهرباني وکړئ!

هغه پر یوې څوکۍ کېښناسته او خپل تورنګه چرمي د سکول یې په زنګونو کېښود. زه هم ورته مخامخ کېښناستم او ورته و مې ویل: فرانسیس

هغې په سوړ اسوېلي کښلو سره ځواب راکړ:

ښاغلی هامر: زه له یو ډېر خطرناک حالت سره مخ یم او هیله لرم چې تاسې ما له دغې بدمرغۍ وژغورئ!

له خپل جیبه مې د سګریټو قطۍ راوویستله او ورته وړاندې مې کړه، د سر په خوځولو یې د نه خواب راکړ. خانته مې یو سګریټ بل کړ او په حیرانۍ مې ترې وپوښتل:

په داسې حال کې چې نیویارک کې خصوصي کارکوونکي کم نه دي؛ نو بیا مو ماته څنګه مراجعه وکړه؟

فرانسیس په نارارامۍ سره وویل:

- مګر یوازې تاسې کولای شئ ما وژغورئ

- ښه نو دا وواياست چې ستاسې اندېښنه له څه شي ده؟

تر لږې چوپتیا وروسته یې خبرې پیل کړې:

- زه او خاوند مې تازه له مسافرۍ بېرته راتلو چې د نیویارک ۲۰ کیلو مترۍ کې زموږ موټر د سړک په مخ د اچول شویو تېږو له امله ودرول شو، په همدې حالت کې د ونو له شاګانو ۵ تنه پیاوړي کسان چې مخونه یې په خانګړو ټوټو پټ کړي وو پرموږ برید وکړ او وې ګواښلو چې باید پلي شو، زه او بورک له موټره راکښته شوو.

- بورک مو خاوند دی؟

- هو! بورک لي

- د بېرښه دوام ورکړئ!

هو هغوی موږ څنګ ته کړو او له واټ څخه یې شاوخوا ۴۰۰ متره لرې یوې ودانۍ ته وروستو وروسته ورننه کړو، په دې وخت کې د دوی مشر چې تمانچه یې موږ ته نیولې وه، خاوند مې د خان پرلور مخاطب کړ او ورته وې ویل:

- پرته له کوم خلاصي شک مه کوه چې بدن به دې سوری سوری په ځای کې پروت وي!

بورک په نهیلۍ خبرې وپوښتل: له موږ څه غواړئ!

- ستا یا ددغې ښکلې مېرمنې وجود!

دغه وړاندېز چې ډېر ساده او سور وشو؛ موږ دواړه يې د مرګ له ګواښ سره مخ کړو.

بورک تر شېبه فکر کولو وروسته وويل:

- ايا کېدای شي کوم بل بديل ولري؟

- د بېلګې په ډول لکه څنګه؟

- دا چې تاسې پيسې واخلئ او موږ خوشې کړئ!

د مخ پټو وسله والو مشر خپله وسله واړوله را واړوله او په لوړ غږ يې وويل:

- وګورو چې ستاسې وړانديز څومره دی؟

رښتيا موږ سره سمدستي دومره پيسې نه وې؛ خو بورک د موضوع په تړاو زياته کړه:

- موږ بايد نيويارک ته لاړ شو او هلته په بانک کې شته پيسې راوباسو

د وسله والو مشر په لوړ غږ وويل:

- ډېر ښه، خو په دې موده کې به دغه مېرمن له موږ سره برمته وي

بورک ته دغه امر د منلو او دوی د باور وړ خلک نه وو؛ نو ځکه يې زما پر ځای خپله برمته کېدنه غوره وګڼله

دوی دا وړانديز په دې شرط ومانه چې زه بايد ۳۰۰۰۰ ډالر يعني خپل ټول شته ورته راوړم، په دې وخت کې د دوی يو تن زه نيويارک ته راوستم؛ وروسته له دې چې ما يادې پيسې برابرې کړې بېرته له همغه کس سره په موټر کې پورته او پخواني ځای ته لاړم؛ مګر د خاوند مې کوم څرک نه لګېده.

ما چې له وړاندې مې پيسې ورکړې وې د دوی له مشر نه وپوښتل:

- اوس نو بورک چېرته دی؟

هغه په تنده لهجه وويل:

خاوند دې شيکاګو ته تللی او پام کې ده چې تا هم حملته ولېږو.

پوی شوم چې خلک دروغ وايي ناڅاپه مې ځان په ډېر نازک حالت کې ولید ؛ له يوې خوا مې بورک دلاسه ورکړ، بل خوا مې پيسې خاورې شوې او دربيم خطر مې د ځان وليد. له ناچارۍ مې زارۍ او ننواتې پيل کړې، خو دوی په ډېرې بې رحمۍ لاسونه او پښې په پړو راوتړل او يو تن يې کوچنۍ ښيښه پوزې ته راوړاندې کړه، سر مې ګنګس او په ځان پوی نه شوم، کله چې مې سترګې وغړولې په يوه خونه کې د تخت پر سر په ډېر بد حالت کې پرته وم

***

خونه تنګه او تیته وه، لاسونه او پښې مې تړل شوي وو، مخکې له دې چې د خپل ځان په اړه څه فکر وکړم د ۳۰ یا ۳۵ کلونو عمر لرونکې یو تن دننه راغی او په خندا یې وویل:

- اغلې حال مو څنګه دی؟

په عاجزۍ مې وپوښتل:

- زه چېرته یم، او ولې مو په دې تخت پورې کلکه تړلې یم؟

په هماغه بڼه یې وویل:

- ډېره اندېښنه مه کوه، دلته به مو ژوند ډېر بد نه تېر نه شي!

ځان مې وخوراوه او ومې ویل:

- هیله کوم ما ته له دې حالته نجات راکړئ

هغه مې ترڅنګ راغی او په ملنډو یې وویل:

- ډېر ښه، مګر په یو شرط؟

- څه شرط؟

دا چې هوښیاره اوسه او ځان ژوبل نه کړې؛ ځکه پخواني مالک دې ویل چې ته د لیونتوب ستونزه لرې او شونې هم ده.

له خولې مې چیغه ووته:

- رښتیا داسې نه دي ! ما خوشې کړه، تر څو ټول جریان درته ووایم هغه زما لاسونه را خلاص کړل او تر مخامخ کېښناستو وروسته یې راته وویل:

- اوس وایه مګر ښکاري داسې چې "نلسون" تاسې ډېر زورولي یاست؟

- "نلسون" څوک دی؟

- همغه چې ته یې پرما پلورلې یې.

ددې خبرې په اورېدو سره مې په وجود لړزه راغله:

- زه یې پر تاسې پلورلې یم؟

- هو ؛ مګر اروپایي نه یې؟

- زه سویسی یم، مالک نه لرم او په امریکا کې له خپل خاوند سره ګډ ژوند تېروم !

- تاسې خاوند لرئ؟

- هو ! د خدای لپاره هیله کوم ما خوشې کړئ.

هغه خپل سر ته ټکان ورکړل او وې ویل:

- ډېره عجیبه وه، هغه په دې اړه ماته څه نه دي ویلي.

فکر مې وکړ شاید ددغه سړي په زړه کې د رحم اوبه تویې شي او ما خوشې کړي، په خوښی مې ورته وویل:

- دا کوم ځای دی؟

- زما کور !

- کولای شم وپوښتم چې په نیویارک کې یم؟

- هو، اغلې په نیویارک کې ؛ خو خپله د نیو یارک په داخل کې نه ؛ بلکې شاوخوا اطراف کې. همدلته زما خپل استوګن ځای او باغ دی.

- بیا نو هیله کوم پرې مې ږدئ چې له دې ځایه لاړه شم !

- لاړه شې؟ اغلې ! ستا په بدل کې مې د ډېرې روپۍ ورکړي دي
- څومره؟
- ۲۰۰۰۰ ډالر

په مغزو مې چکر راغی؛ ۲۰۰۰۰ ډالر؟ بیا نو معلومېږي چې زما آزادي ۲۰۰۰۰ ډالرو پورې مشروطه ده، هغه هم چې د پرېکولو هېڅ توان یې په ځان کې نشم احساسولای.

په تندۍ سره مې وویل:

- لږ رحم وکړه، زه دومره روپۍ نه لرم

په سپوره لهجه یې وویل:

- له تا په دې ډول د پیسو غوښتونکې نه یم
- نو څه ډول؟

- پرته له پلورلو مو بله چاره نه لرم، زه دلته د هر ښه ښه مشتریان لرم او تاسې خپلخوښي یاست چې هر یو مو خوښ او، تاکلی یې شئ؛ خو په داسې حال کې چې وړاندېز شوي قیمتونه مو لوړ وي.

زما ژړا ته له پام اړولو پرته یې د بېرون څرېدلې تالی ښتن کېښکاږله

چوپړی دننه راغی او ورته ویې ویل:

ښاغلي ته روایه دلته راشي جنس تیار دی.

***

په دې وخت کې یې مخ راواړوه او زیاته یې کړه:

ستاسې نا ارامي بېځایه ده، زما ټول مشتریان پیاوړي شخصتیونه دي، چې یو یې د هند له معتبرو خلکو څخه دی، بل یې د ترکې له پخوانیو واکمنو او دریم یې یو عرب دی چې له نورو څخه لږ ځوان او همدا رنګ شتمن هم دی ! دوی به تاسې له ځان سره خپل هېواد ته یوسي، هلته به مو په ځانګړو ښکلیو ودانیو کې ساتي.

نور مې زغم پای ته رسېدلی و او رښتیا هم نور له ژونده ستړې شوې وم. ما به څومره زغم کړی وای؛ څکه چې په دې څو ورځو کې له ډېرو بدو وحشتناکو پېښو سره مخ وم، هغه په داسې بدبختۍ چې ما یوازې په کتابونو او فلمونو کې لوستې او لیدلې وې. په هر حال څو شېبې وروسته هغه مشتریان چې ماته یې په اړه ویل شوي وو دننه راغلل.

یو له دوی نه همغسې چې ویل یې عرب و، اوږدې جامې او وېږوونکې څېره یې لرله چې په لیدو یې د انسان غوښې ځیږه کېدل. دویم تن چې هندي جامې یې پر تن وې نازک او ډنګر بدن یې درلود او له ډېرې خندا یې د ستوني تالو (منغ) ښکارېده. وروستی کس یو ترکی و چې امریکایي جامې یې پرتن وې او هڅه یې کوله چې ځان امریکايي تیپي وښيي؛ خو څرګندېدله چې له دغه لباس سره بلدتیا نه لري.

دغه درې تنه چې د داړونکو ځناورو په څېر یې زه څارلم، کرار کرار وراندې راغلل او زما د پلورونکي تر ور پېژندنې وروسته کیناستل. زه یې مخاطبه کړم: اغلې، همغه ډول چې مې درته ویلي و دغه درې واړه ستا پېرودونکي دي او تاکنه یې ستا په لاس کې ده؛ مګر دا چې یو له بله لوړه بیه وړاندې کړي.

هندي ځوان چې یو احمق او بې باکه انسان ښکارېده له ځپل ځایه پورته او زما تر څنګ راغی. لاس یې زما پرېدن راتېر کړ؛ خو پرته له ځنډ مې یوه پیاوړې څپېړه وواهه.

دا کړنه مې د ارباب خوښه نه شوه او له راپورته کېدو سره یې په چیغه وویل: بد اخلاقې! ته دومره بې شرمه شوې چې اوس په خپلو مشتریانو هم لاس پورته کوې، اوس به یې درمعلومه کړم؛ خو ترکي وګړي یې مخه ونیوله او په نیمه ماته ګوډه انګلیسي یې ورته وویل: هغه وبخښه، ښځې فطرتاً ناقص العقله دي، زما هسې ددې یاغي

کوترو کړنې خوښېږي، خير کرار کرار به د خپل مالک له خوی سره بلد ه شي.

له ډېرې ناارامۍ په څمکه ولوېدم او په چيغو چيغو مې وژړل، زما د ژړا په جريان کې دوی زما د قيمت په تړاکلو بوخت ول، آن تر دې چې يو وخت مې پر بدن د چا اېښودل شوی لاس حس کړ، راپورته شوم ومې ليدل چې همغه ترکی دی او د ژبړو چټلو غاښونو په ښکاره کولو يې وويل:

ښکلې مرغۍ ستا قيمت به او س وټاکل شي!

د کور مالک راوړاندې شو او امر يې وکړ چې خپلې جامې له بدنه لرې کړم. درک مې کړه چې لومړنۍ خبرې پای ته رسېدلې او اخيستونکي اړينه بولي چې زما بدن وګوري؛ خو پرېکړه مې وکړه چې په هر قيمت وي د دې بې پتۍ مخه به نيسم؛ مګر زما هڅو کومه مثبته پايله ورنه کړه او دوی د ورېو لېوانو په څېر راباندې راټول شوو، په څو شېبو کې يې جامې راوشيرلې، نور مې د مبارزې توان نه درلود او بې هوښه شوم.

کله چې په خود شوم ومې ليدل چې ترڅنګ مې خدمه ولاړه ده او لاسونو کې يې جامې نيولې دي، سمدستي مې هغه واخيستې او پر تن مې کړې.

داړونکي ځناور لا هم د خونې په يو کونج کې په خبرو بوخت ول او داسې ښکارېده چې لا هم زما د قيمت په ټاکلو کومې پايلې ته نه دي رسېدلي.

د دوی په منځ کې ترکی ترټولو قهر جن ښکارېده.

د کور خاوند په ما بولي ولګوله(آزادې بيې ته يې وړاندې کړم)، څو مره به چې ترکي لوړه بيه ټاکله مقابل لوري به هم ترې لوړه خبره کوله

دغه حالت روان و ترهغې چې ترکی په شاه لاړ او میدان هندي او عرب ته پاتې شو.

عرب چې وار په وار یې قهر زیاتېده نا څاپه یې کمربند نه خنجر راووېست او په خپل ټول زور یې د تنکي هندي ځوان په سینه ورخښ کړ.

ترکي چې خپل ملګری یې دلاسه ورکړل شوی ولید. خپله تمانچه یې راووېسته او د برید لپاره یې ماشه کېښکاږله؛ خو مرمۍ تصادفاً د عرب پرځای د کور پر خاوند برابره شوه او ډېر ژر یې د مرګ له کومې تېر کړ.

خدمتګار چې تراوسه په خونه کې ولاړ و د دغه حالت په لیدو بېرون ووت او په یوې ویرجنه چیغه یې نور راخبر کړل، په څو ثانیو کې څو تنه کورته را ورسېدل او سخته نښته پیل شوه.

عرب چې حالت نازک او پیچلي ولیدل ورو - ورو یې ځان د کتارو (او سپنیزو پنجرو) ترڅنګ ورسوه؛ مګر د مقابل لوري په یوې مرمۍ له تېښتې وغورځول شو. ترکی هم تر سختو لغتو او سوکانو لاندې بې هوښه پروت و.

ما له موقع نه په استفادې خپل ځان هوېلۍ ته وغورځوه، دا مهال نور تیاره په خپرېدو ره او دا ټوله لوبه زما په سر وه. مخکې له دې چې د چا پام راواوړي نو موړی استوګن ځای مې ترک او بیرون سړک ته ووتم لومړنی موټر چې مخې ته مې راغی یوه مېرمن او سړی په کې سپاره وو، راته ودرېدل، په بیړه ورپورته شوم او سیخه یې نیویارک ته راوستم.

کله چې خپل کور ته ودرننه شوم د بورک هېڅ څرک نه لګېده، اوږدو کړاوونو ستومانه کړې وم، تر دوو اونیو ناروغه پرته وم، آن تر دې چې بلاخره مې نن د لږې روغتیا په احساسولو د یو دوست په مرسته تاسې

ته مراجعه وکړه، اوس نو ښاغلی هامر له تاسې هیله کوم چې زما خاوند پیدا او ما له دغې بېوزلی وژغورئ!

مېرمنه د دې کیسې تر اورولو وروسته غریو ونیوله او ښه ډېر یې وژړل

سګرېټ مې ګل کړ او په داسې حالت کې چې له ځایه پورته شوم ومې ویل:

- فرانسیس! زه له تاسره ژمنه کوم چې د خاوند په موندلو او د دغو ناولو جنایتکارانو په له منځه وړلو کې به هېڅ مرسته درنه دریغ نه کړم.

- اوس دې ومنله ښاغلی هامر!

- البته، ایا د هغې نجلۍ عکس چې د ې له البومه اخیستی و له ځان سره ساتلی دی؟

اوښکې یې پاکې کړې او په افسوس سره یې ځواب راکړ:

- له بده مرغه چې هغه عکس مې ورک کړی دی، مګر زه هغه پېژنم او د اړتیا پرمهال به یې در سره تر کوره لاړه شم.

- ډېر ښه بس هم غه د کور ادرس یې راکړه!

ادرس یې د کاغذ پرمخ ولیکه او په داسې حال کې چې ما ته یې راکوه وې ویل:

- ښاغلی هامر! ما نه یوه مهمه خبره هېره شوې وه.

- کومه خبره؟

په خجالت امېزه لهجه یې ځواب راکړ:

- ما سره سمد ستي روپۍ نشته چې تا ته یې د حق الزحمې په بڼه درکړم

ومې خندل او تر دروازې د بدرګه کولو په حال کې مې ورته وویل:

- خوږې فرانسیس! زه له تا هېڅکله دا تمه نه لرم. زه دا خپله ایماني دنده او مسوولیت بولم چې مرسته دې وکړم. له دې اړخه بېغمه اوسه.

هغې په خوښۍ مننه وکړه او ما په رښتینولۍ داد وکړ چې د معلوماتو د ترلاسه کولو پرمهال به یې په جریان کې کوم

د فرانسیس له تګ وروسته مې پرته له ځنډ د خپل دفتر شمېره دایره کړه، ولدا غوږۍ پورته کړه:

- مهرباني وکړئ!

خپل غږ مې تغیر کړ او په شوخۍ سره مې وویل:

- زه د متحده ایالاتو جمهور رئیس یم!

- مایک، ته یې؟

- هو، ګرانې

- کله راغلی یې؟

- څو ساعته وړاندې

- بس هر څو مره چې ژر کېږي زما تر څنګ راشه!

- همدا سې فکر لرم خو یو شرط لري!

- څه شرط؟

- دا چې ښکلې جامې او سینګار کړې څېره.

- ای لېونیه، هرڅه چمتو دي ژر راځه!

- درغلم ګرانې بس پاو وخت کې به دې تر څنګ درو سېږم

غوږۍ مې کېښود؛ او له کوره ووتم؛ خو تېلفون ته پرلپسې زنګونه راتلل دا خل پات و، همدا چې زما غږ یې واورېد په ډېرې قهرېدلې بڅه یې وویل:

- مایک چېرته یې؟

- ښاغلی رئیس، ستاسې په خدمت کې

- ملنډې دې پرېږده او عاجل ځان ماته راورسوه!

- د څه لپاره؟

- د الجيسون په استوګن ځای کې د هر خطرناک جنايت پېښن شوی دی.

په جديت سره مې ځواب ورکړ:

- ښه نو دا موضوع ما پورې څه اړه لري؟

- عجيب کم عقل يې، دا جنايت يې ستا په غاړه اچولی دی

- زما په غاړه؟

هو، دوه اونۍ وړاندې پېژندل شوی جيسون له درې تنو مېلمنو سره چې يو يې ترکی، بل هندی او دريم عرب و وژل شوي دي، همدارنګه يې دوه ساتونکي تېپيان شوي او دوه وژل شوي هم دي؛ اوس پوی شوې؟!

سمدستي پوی شوم چې دا هغه پېښه ده چې د وژنو په اړه يې فرانسيس راته ويلي وو، د پات ځواب کې مې وويل:

- ګرانه ته له ما هيڅ اندېښنه مه لره، زه پوهېږم چې ال جيسون او ملګري يې څنګه وژل شوي دي

پات په ځواب کې راته وويل:

- ته په دې سره نه شې کولی ځانته د خلاصون لار پيدا کړې!

- ځان خلاص کړم؟! ته څه وايې پات! زه د داسې عمل مرتکب نه يم چې ترې د خلاصون په هڅه کې دې شم

هغه زياته کړه:

- اخر د تمانچې دوه مرمۍ د جيسون په بدن لګېدلي دي او د هغې له وجې له منځه تللی دی.

د پات دې خبرو مې له پښو ځمکه ونښيوله او په وجود مې خولې راماتې شوې پرته له دې چې له پات و پوښتم ومې ويل:

سمه ده نن دې څو ساعته وروسته ليدو ته درځم

غوږې مې کېښودې او د وسلې اېښودلو الماري په لور ورغلم، ما تل خپله اضافي وسله دلته اېښوده. په بېړه مې د الماري ور پرانست او دننه مې نظر واچوه، حيرانتيا مې زياته شوه، ومې ليدل چې يوه دانه (۴۵) ماډل لرونکې تمانچه مې نشته له ورخطايي ګنګس شوم چې دا د چا په واسطه او څنګه وشول؟

نه پوهېدم

***

کله چې خپل دفتر ته ننوتم، ولدا راته په انتظار کې وه، په روغبړ کې مې ورته وويل:

خوږې ! باور وکړه چې زړه مې د ډېر درېسې خفه شوی و.

هغې خپل سر زما په غېږ کې زور کړ او وې ويل:

- مايکه ! ستا د څو ورځې هجران رابانديې ډېر سخت تېر شو.

- په ما هم همدا سې.

- ايا بلاخره بريالی شوې؟

- د پانچو په اړه؟

- هو !

- هو ګرانې هغه ناولی انسان د خپل ... کړو په سزا ورسېد ؛ مګر تراوسه لا خبره پاکه نه ده او لا په يو بل ... جنجال ککړ شوی يم

- څه جنجال مايکه !

وروسته له دې چې په کوچ کېناستم سګریټ مې بل کړ او د فرانسیس غمیزه مې ورته واوروله، د پاټ په اړه مې هم ورته وویل.

په حېرانۍ يې وپوښتل:

- ایا پولیس غواړي تا توقیف کړي؟

- هو!

- په کوم دلیل؟

- په دې دلیل چې د هغه جیسون وژنه زما په تمانچه ترسره شوې.

- اخر دا څنګه مایک؟!

- دا داسې يوه پوښتنه ده چې خپله يې هم په ځواب نه پوهېږم، مګر شونې ده يو څوک د نورو په مرسته زما اپارتمان ته داخل شوی او غالباً اصل موضوع يې زما وسله نه او دا موضوع په دويمه درجه کې ځای لري.

- ښه نو اصلي موضوع څه شی دی؟

همغه انګلستاني لرد (د انګلستان په شاهي کورنۍ پورې تړلي/ معتبر اشخاص) چې د خپلې مېرمنې په وژنه يې اعتراف کړی و.

- هو يو شمېر خيال لري چې يوه بله ښځه د لرد د مېرمنې په نوم ځای ونیسي په داسې حال کې چې دغه اعتراف لیک نه اوسي او دا نقشه د پرېښانه او پلې کېدونکې ده.

لرد کوئین په امریکا کې يوازې ژوند کاوه، څوک يې له کورنې څوک څخه خبر نه وو، هېڅوک نه پوهېدل چې هغه خپله مېرمن وژلې ده او هرچا فکر کاوه چې مېرمن يې په انګلستان کې ژوند کوي.

هو! يو شمېر ددغې اعتراف لیک په لټه کې دي او هڅه کوي چې ترلاسه يې کړي په داسې حال کې چې دا تصادفاً زما ګوتو ته راغلې ده.

ولدا په حېرانتيا سره وپوښتل:

- مايکه، تا دغه اعتراف نامه له کومې سورې پیدا کړه؟

سګريټ مې په سګريټ داني کې وغورځوه او ومې ويل:

- دغه اعتراف پاڼه په يو سربندي پاکټ کې وه چې خپله مکسيکو ته تر تګ وړاندې دې ما ته راکړې وه. اغلې ولدا! نو موږ لرد دا اعترافنامه خپله ليکلې او له هغې وروسته يې په بوتل کې بندوي او په خپل لاس يې سيند کې لاهو کوي؛ خو د هغه ځانګړې مرستيال دا حالت ځاري او پاکټ بېرته له اوبو راباسي؛ مګر له بده مرغه چې د همدې موضوع په سر خپل ژوند هم دلاسه ورکوي، يعني ورانکاري پرې پوې شوي او هغه يې له منځه وړي.

- هو مايک، ما دغه پېښه په ورځپاڼه کې ولوسته مګر ۱ هغه د ځان وژنې علت معلوم نه شو.

په خندا مې وويل:

- ما هم چې اعترافنامه په لاس کې لرله نه پوهېدم چې چا راته رالېږلې ده.

- اوس دا سند له تا سره دی؟

- هو ګرانې ځای يې مسؤن دی؛ مګر يو شمېر خلکو فکر کړی چې دا ما په پارتمان کې ساتلې ده، په همدې خاطر خو زما په نه موجوديت کې دلته راغلي، دا چې سند يې نه دی پيدا کړی تمانچه يې رانه پټه کړې! او د آلجيسون په وژنه يې زه په جوال کې! چولی يم

- خبر نو د فرانسيس په وينا چې جيسون هغه ترکي وژلی دی؟

- بلې په داسې حال کې چې دغه سړی د هغې ډلې غړی دی چې لرد شتمنی ته يې سترګې پټې کړې دي دا پرته له شکه چې هغه يا يې ملګري زما پارتمان ته راغلي او بيا يې يوه بله موضوع....

- څه موضوع؟

- دا چې مخ پټې وسله وال دغې ډلې سره کاملا يو له بله بېل دي په هر حال د پات ترليدو نه شم کولی څه وړاندوينه وکړم.

- اوس څه تصمیم لرې او څه کار کول غواړې؟
- غواړم د پات لیدو ته لاړ شم
ولدا د نارامۍ په څرګندولو سره وویل:
- مګر هغه تا توقیفوي!
د ښکلولو سربېره مې ورته وویل:
- باور لرم چې هغه په خپل استوګنځای کې له ما سره هېڅ کار نه لري
- ښه نو زه هم درسره ځم
- نه ګرانې ته همدلته زما د ټېلفون په انتظار اوسه
- مګر مایک...
ژر مې په غېږ کې ونیوه او پرې مې نه ښوده چې نور څه ووايي، په ارامۍ مې ښکل کړه او نور ترې روان شوم

***

پات مې په ناارامۍ انتظار کاوه، کله چې یې ولیدم؛ نو د معمول په خېر یې خپلې اغزنې خبرې پیل کړې:
- ښه مایکه، بلاخره دې په لوی لاس ځان کړاو ته واچوه!
په ناارامۍ سره مې وویل:
- پاته، عاقلانه فکر وکړه!
- عاقلانه فکر وکړم! ته غواړې نو بیا د ناامنۍ کندې ته تېل وهې؟!
- دا خوشې چټیات دي!
- مایکه، زه تا ښه پېژنم.. تا الجیسون د هغه تر استوګنځایه څارلی او بیا دې په ګډه له مېلمنو سره وژلی دی.
که څه هم ډېر په غوسه وم؛ خو بیا مې هم د پات داستان اورېدو ته خندا راغله او ورته ومې ویل: پاته! لږ زما خبرو ته هم غوږ ونیسه او که همداسې ډېر وخت وغږېږې؛ ناچار یم چې خپل غوږونه بند کړم

پات خو شېبې چپ شو او زياته يې کړه:

- اول غواړم پوی شم چې د آلجيسون په کور کې څه څه موندل شوي دي؟

- څه دې غوښتل چې پيدا شي؟ ستا تمانچه او د هغې مرمۍ چې د ۴۵ ماډل لرونکې تمانچې په واسطه کارول شوې دي؛ څکه خو دا ستا جنايت ښکاره دليل دی.

- ډېر ښه؛ مگر تاسره دا فکر نه و چې بل کس به زما په وسله د جرم مرتکب شوی وي؟

- يعني وسله دې غلو وړې وه؟

- هو! او له دې وړاندې زه بل قانع کوونکی دليل نه لرم!

- نو ته بيا چېرته وې؟

- مکسيکو کې

پات سوچ کې ډوب شو، ښه يې بدله شوه او په شمېرل شويو خبرو يې وويل:

- مايکه، فکر مې ارام شو، رښتيا هم لېوتنتوب ته نېږدې شوی وم له خپل ځايه پورته شو او څو شېبې وروسته له يو بوتل مشروباتو او دوه گلاسونو سره بېرته راغی. تر مشروباتو څکلو وروسته مې ترې وپوښتل:

- ښه پات! دا هم راته ووايه چې پرته زما له تمانچې د آلجيسون په کور کې نور څه ترلاسه شوي دي؟

- د ښځينه جامو څو څېرلې ټوټې او يو تصوير.

پرته له شکه چې د جامو دا ټوټې او عکس فرانسيس پورې تړاو درلود، همغه عکس چې له البوم نه يې راوېستی و؛ خو په دې اړه مې پات ته څه ونه ويل او ترې مې وپوښتل:

- کولای شم دغه تصوير زه هم وگورم؟

- هو، کومه ستونزه نشته؛ خو ته اوس هم ترڅار لاندې يې او نشې کولای د پوليسو ادارې ته لاړ شې.
- ته خپله دغه کار وکړه
- د څه لپاره؟
- ددې لپاره چې زه ددغه عکس څښتن پېژنم
پات غوښتل څه زيات کړي؛ خو ومې ويل:
- زه نور څه نه غواړم، يوازې هغه عکس دلته راوړئ؛ ځکه زه اړيمه چې هر څو مره ژر کېږي تاسې ته خپله بې ګناهي ثابته کړم
هغه په ډېرې چټکۍ سره زما غوښتنه ومنله او وروسته د ټېلفون له اينسودو راته مخامخ کېناسته
- هې مايکه! که زه همدا اوس هم تا د پوليسو په ولکه کې ورکړم ته به څه وکړې؟
ترمخ اينسودل شوي مشروبات مې په سر راواړول او ځواب مې ورکړ:
- ته هېڅکله دا کار نه کوې
- ولې؟
- ځکه چې زه کولای شم خپله بې ګناهي ثابته کړم؛ مګر د آلجيسون او د هغه د مېلمنو د وژنې موضوع به د تل لپاره همداسې ګونګه پاتې شي.
- يعني ته دومره په خپلې هوښيارۍ غره (ډاډمن) يې؟
- خبره د هوښيارۍ نه ده پاته، خبره دا ده چې زه له دې وژنو خبريم
پات خپل لاس په تندي کېښود او وې ويل:
- زه ستا په خبرو نه پوهېږم، له يو اړخه وايې چې د دغې پېښې د پېښېدو پر مهال مکسيکو کې وې، له بل اړخه دعوه کوې چې په دې وژنو خبر يې؟ عجيبه ده!

ومې خندل، په همدې شېبه کې ګمارل شوي کس غږ کړ چې د پولیسو مامور راغی.

پات په چټکۍ له خونې ووت او یوه دقیقه وروسته په لاس کې نیولي تصویر سره خونې ته راننوت؛ هه ! دا دی عکس !

هغه مې واخیست او ورته ځیر شوم، ریښتیا هم ښکلې نجلۍ وه. له ځایه پورته شوم او په داسې حال کې چې تصویر مې په جېب کې ایښوده ومې ویل:

- پاته، زه باید نور لاړ شم
- څه دې ترلاسه کړل؟

په موسکا مې وویل:

- ډېره بیړه مه کوه
- ښه نو بیا نن شپه راسره اړیکه ونیسه، دا کار حتمي دی
- سمه ده، اوس د الله په امان
- د لیدو په هیله مو

له هغه ځایه چې راووتم یوې ټېلفون خانې (اړیکتون) ته لاړم او د خپل دفتر شمېره مې ډایله کړه، ویلدا ته مې وویل چې زما په تمه نه شي.

وروسته یوې ټکسي ته پورته شوم او د دغې نامعلومې نجلۍ ادرس مې ورکړ. اړینه مې ګڼله چې د دغې نجلۍ له مور سره خبرې وکړم؛ ځکه اوس د دې نجلۍ عکس هم راسره او کولی مې شو په ډېرې اسانۍ ځان له جریان څخه خبر کړم

***

د نجلۍ نوم "مارلين" و، پلار يې نه لره او خپله يې د ګل فروشۍ په مغازه کې کار کاوه، ادرس يې د ۲۸ مې جادې په پای کې و، کله چې ورور سېدم، مور يې زما هرکلی وکړ.

ښځه شا وخوا ۴۵ کلنه وه؛ مګر تر اوسه يې څېره کې د ځوانۍ نښې پاتې وې. زما په ليدو لږه ګډه وډه شوه او په ناارامۍ يې وپوښتل:

- فرمايش مو لره؟

په داسې حال کې چې خپل پېژند کارمې وروښود ومې ويل:

- زه مايک هامر يم، د خصوصي چارو کارپوه.

احساس مې کړه چې چلند يې کاواکه دی، وروسته زما تر ځان پېژندنې يې د کېناستو سربېره راته وويل:

- ښاغلی هامر، څه شې ددې لامل شوو چې تاسې دلته راتلو ته اړيا سي؟

- تاسې نه پوهېږئ چې د څه دپاره راغلی يم؟

- له بده مرغه نه پوهېږم

مېرمنې، زه راغلى يم ترڅو ستاسې د لور (مارلين) په اړه درسره خبرې وکړم.

په وجود يې يوه نازکه لړزه راغله چې ما يې حالت ښه درک کولی شو. سګريټ مې بل کړ او زياته مې کړه:

- هو، راغلی يم چې د هغه څه په اړه وپوښتم، هو ستا نوم؟

- لورا

- مېرمن لورا ! ستاسې د لور حالت زه ډېر اندېښنه کې کړی يم، تاسې يې په اړه څه خبر لرئ؟

په سره سينه يې وويل:

څو ورځې وړاندې مې په اړه يو ليک ترلاسه کړی و، حالت يې ښه دی، اوس يې د سينما په برخه کې ډېر پرمختګ کړی دی.

- ښه، شونې ده د هغې پته (ادرس) راکړې؟

- له بده مرغه، دقيق ادرس يې نه لرم؛ ځکه هغه تل په ګرځنده حالت کې وي. فکرکوم تراوسه په هونولولو کې اوسي، چې ليکلي يې وو هغه ځای ته د تلو نيت لري؛ ځکه د پوليسي فلمونو له يوې کمپنۍ سره يې قرارداد کړی دی.

ښځې په څومره ارامۍ دغو درواغو ته تراو ورکاوه. باوري وم چې تولې خبرې يې له رښتيا سره په ټکر کې دي. په مغ مې لاس راکش کړ او زړه کې مې د هغې دغه دروغ ويونکي هنر ته افرين ووايه. تر لږې چوپتيا وروسته مې وويل:

- د هغې له ليکونو هېڅ کوم يو دې له ځان سره نه دی ساتلی؟

ځواب يې راکړ:

- نه، له بده مرغه؛ ځکه هغې غوښتنه کړې وه چې يو ليک يې هم له ځان سره ونه ساتم.

نور نو ماته هېڅ شک پاتې نه شو چې دغه ښځه د خپلې لور په وركاوي او لومه کېوېستو کې پوره لاس لري او هغه کمبخته نجلۍ د کلک زړېتوب دښمنۍ په اور سوزېدلې ده. مګر د کومې ښېي شتون و چې ددغې مور او لور ترمنځ يې ستونزه جوړه کړه؟ دا لا نو د پوهېدو وړ وه.

په امرانه لهجه مې وويل:

- لورا! ته نه شې کولای ما تېر باسې

زما خبرې يې په بېړه پرې کړې او په خوږ سره يې وويل:

- ځنګه، تاسې په کوم دليل سره دا خبره کوئ؟

- په دې دليل چې ستاسې لور په هېڅ دليل هاليوډ ته نه ده تللې او د سرغړوونکو او جنايتکارانو په ولکه کې زنداني ده. زه په دې اړه پوره ډاډ لرم.

له خايه پورته شوه او په لوړ غږ يې وويل:

- سر غړوونکي او جنايتکاران؟! دا خبرې خوښې، چټيات دي: ځکه هغه ليکونه چې ماته راځي هغه څه دي؟ هر و مرو وايې چې هغه هم جعلي دي؟!

په داسې حال کې هڅه مې کوله ارام او سم ومې ويل:

- لورا غوږ و نيسه! زه له ټولو کارونو خبر يم، تاسې ته هېڅکله هم ليکونه نه دي راغلي او نه به راشي. زه ستا نه دروغجنو خبرو وتوانېدم چې د مسلې ژورو ته ننوځم، "ته" نه يوازې دا چې له ټولو شيانو خبره يې؛ بلکې په خپل لاس دې مارلين بېچاره ناولو انسانانو ته سپارلې ده او پرته له شکه امکان لري څه ګټه دې هم د هغې پر سر ترلاسه کړې وي يعني تا د څو روپيو په بدل کې هغه نادرکه کړې ده، له دې وجې د ژوند دغه حالت نه شي کولی نوې بڼه ولري، لازمي ده چې په دې کې د عشق اغېز شته، هغه هم د يو ناولي او ځان غوښتونکي عشق؟

- زه نه پوهېږم چې ته څه وايې
- ډېره ښه پوهېږې، امکان لري تاسې دواړه (ته او مارلين) په يوه تن مين وئ او تا غوږه ګڼلې چې خپله سيالة له منځه يوسې؛ ځکه تا ته نور دې کوم توپير نه درلود چې دا سياله دې خپله لور وي او يا کومه بله مېرمن، ته خپلې مينې لونې او ړنده کړې وې.

لورا دې خبرو په اورېدو بې واکه شوه او ورو يې په څوکۍ تکيه ووهله.

غشی مې ډېر پرخای لګېدلی و، مخکې له دې چې د خبرو اغېز مې له منځ لاړ شي، په همغې ښه مې ور زياته کړه:

لورا ! اوس دې خپله راته ټول جريان او حقايق ووايه، ژمنه کوم چې د امکان په صورت کې به دې له دې حالته د ژغورلو هڅه درنه نه دريغوم.

لورا خپله ښه بايللې وه، ما يې په څېره کې ورخطايي او اندېښنه لوسته، ساعت ته مې وکتل شاوخوا د شپې يوه بجه وه؛ خو لا مې کار پر مختګ نه و کړی، په تندۍ سره مې ورته وويل:

- ژر کوه خبرې وکړه ! ما سره وخت نشته، ته کولی شې له دغې لومې دې خپله لور او ځان خلاص کړې مارلين ستا لور ده، هله ژر کوه نور وخت نشته لورا !

په داسې حال کې چې له سترګو يې اوښکې بهېدې وې ويل:

- ښاغلی هامر ما تېروتنه کړې، داسې ستره تېروتنه چې له امله مې خپله ښکلې او ګرانه لور دلاسه ورکړه؛ مګر باور وکړه چې ما په دغه کار کې لاس نه درلود.

څو شېبې غلې شوه، په جديت مې وويل:

- ښه دوام ورکړئ !

- هو ښاغلی هامر، موږ دواړو "استيو" سره مينه لرله

- استیو !

- هو ، هغه ډېر مينه ناک ځوان و او زما ورسره ليوني مينه وه؛ خو هغه ډېر پست انسان و ، له موږ دواړو سره يې ستر خيانت وکړ- هم ما هم مارلين سره- دغه ناولي انسان زه او مارلين د بدنامۍ کندې ته ټېلوهلو ، آن تر دې چې بلاخره مارلين وتښتېده او تر هغې دوه ورځې وروسته استيو هم ورک شو ، ما د خپلې ابرو او عزت ساتلو لپاره هېڅ غږ ونه وېست او خبره مې همداسې پټه پرېښوده.

ساه مې واخيسته او ومې ويل:

- ښه وايه چې پوی شم چېرته له استيو سره بلده شوې؟

- په "ابال" رستورانټ کې، هغه هم يوازې د غرمنۍ پرمهال مو سره خبرې وشوې، په نرمو او خوږو خبرو يې زما پام وروا ړوه او ډېر ژر مې پرې زړه وبايله؛ خو ډېر بې ننګه انسان و.

- د هغه ځای، استوګنځای درمعلوم دی؟

- ويل يې چې مهندس دی او په "تام" رغنيز شرکت کې کار کوي

- ايا د ملګرتيا په دې دومره وخت کې يوه ورځ هم ورنغلې چې دا دروغ او که رښتيا وايي؟

- له بده مرغه؛ مګر وروسته له هغې چې زه يې پرېښودم، يو ځل هغه ځای ته ورغلم، البته د دې لپاره نه چې زه يې پرېښې يم؛ بلکې غوښتل مې چې د مارلين احوال واخلم خو هغوی راته وويل چې تر څو ورځو مخکې پورې يې دلته کار کوه؛ مګر له هغې وروسته يې استعفا ورکړې ده.

- يعنې دا استعفا او د مارلين ورکېدل سره په يو وخت کې رامنځته شوي دي؟

- هو ښاغلی هامر

- خو تاسې دا جريان بيا ونه څاره؟

- نه؛ ځکه په همغو لومړيو کې د مارلين ليک را ورسېد چې ليکلي وو: "د تل لپاره مې هېره کړه ترڅو له..".

بيا هم دغه مکاره ښځه په خپلو دروغو ويلو لګيا وه او دا يې په داسې زرنګۍ ويلې چې تا فکر کاوه ټولې خبرې يې په حقه دي هو، دا د ېره پياوړې مسلکۍ دروغجنه وه.

په دې وخت کې مې سترګې په ديوال کې په ځړېدلي عکس ولګېدې، لورا ته مې وويل:

- دا د استيو عکس دی؟

تر لږ فکر وروسته يې د ژبې په "څک" سره د ((نه)) ځواب راکړه.

ورته و مې ويل:

عجيبه ده! سربېره پر دې چې دا ټولې بدمرغۍ پر تاسې د همغه ناروا دلاسه راغلې خو بيا هم تا يې په عکس د خپلې خونې د ېوال ښکلی کړی دی؟

په بې پروايۍ يې وويل:

- دا عکس د مارلين د ښکلې ځوانۍ خاطرې ژوندۍ ساتي؛ ځکه له بده مرغه چې د لور عکس مې له ځان سره نه لرم او په همدغه يې مينه ماتوم.

- چې د استيو عکس له ځان سره وساتې؟!

په قهرجنه لهجه يې وويل:

- هو!

- رښتيا هم چې ستا حق دی

- رښتيا ښاغلی مايک هامر! تاسې زما له مارلين څخه خبر نه لرئ؟

له جېبه مې د مارلين عکس راوويست او ورمې کړ. په بېړه يې رانه واخيست او ځوځل يې ښکل کړ. څو شېبې وروسته يې په هيبت وهلو

سترګو د خپلې لور په تنې او مړاوې شوې څېرې سترګې خښې کړې او په چيغو يې وويل:

هی ! کاش چې مړه شوې وای، دا د يوې مور له توانه وتلې خبره ده !!!

په زړه کې مې وويل: ای زړې ناولې او شهوت پرستې ښځې بلاخره يې ستا مخه خلاصه کړه.

درک مې کړه چې د چا انتظار کوي؛ خو ښکاره مې څه ونه ويل، همدا سې په څمکه ناست پاتې شوم.

هغه همدا سې غلې وه او تر لږ ځنډ وروسته يې په ډېرې سپين سترګۍ د دروازې لور ته لاس وغزوه او زياته يې کړه:

- په هر حال ښاغلی هامر، فکر کوم که نورې خبرې مو پاتې نه وي يوازې همدا غوښتنه لرم، هرکله چې مو زما د لور په اړه معلومات ترلاسه کړل؛ نو خبره مې کړئ ! دا چې اوس مېلمه لرم او راروان دی شايد ستا په ليدو ناراحته شي، په همدې خاطر مو له شتون بخښنه غواړم.

چاره نه وه او له ځايه پاڅېدم

- ډېر ښه، ستاسې ځنډ کېږم نه، تمه ده بل وخت سره خبرې وکړو.

- حتماً. زه ستاسې په څېر کارپوهانو سره له خبرو کولو ډېر خوند اخلم

تر دې خبرو وروسته راوړاندې شوه، زړه يې و چې ښکل مې کړي؛ خو په بيړه يې له خونې ووتم او ورغږ مې کړ:

- سمدستي د الله په امان

❋❋❋

همدا چې سړک ته راووتم څو ګامه وړاندې يوې هټۍ ته ددننه شوم. له هټيوال نه يو ګيلاس مشروبات راوغوښتل- هغه يو ټيټ قدی او پلن ختی سړی- رانه لږ وړاندې ودرېد او تر شونډو لاندې يې وويل:

- خواړه نه خورې؟

- نه، فقط مشروبات.

ددې خبرو په جريان کې مې تر ځان اخوا د ښځوا سيمه خپل نظر لاندې تېره کړه، په ياده هټۍ کې يوه نجلۍ هم د يو مېز تر شا ناسته وه او له يو بل تن سره يې خبرې کولې. د نجلۍ مخ زما پر لور و او د هېر ژړ يې څېره زما په ذهن کې کېناسته؛ خو د ورسره ناست سړي په مخامخ ليدو ونه توانېدم.

مشروبات مې وڅکل؛ خو مخکې له دې چې ګيلاس د مېز پر سر کېږدم له لاسه مې خوشې کړ او د ځمکې پر مخ ولوېد. د ګيلاس له غورځولو مې اصلي موخه همغه پناه کس و چې ما يې د مخ د ليدو تلوسه لرله همدا چې مخ يې راواړوو، سمدستي مې وپېژند چې

"استیو" و، د هغه تصویر په څېر چې ما د لورا په کور کې پر دېوال ځړېدلي حالت کې لیدلی و. نور تم نه شوم او د پر ژر مې خان ترخنګ ورورسوه، په اوږه مې لاس ونه ورکېښودل او په ورو مې ورته وویل:

- استیو؟

سترګې یې راپورې وګنډلې

- بلې

- زه غوارم یو څو تکي خبرې درسره وکړم هغه زما غوښتنه د خان لپاره سپکاوی وګڼه، نیم راپورته او په قهر یې وویل:

- تاته چا دا اجازه درکړې چې له ما سره خبرې وکړې؟

د بر مست و، سبق ورکولو ته یې اړتیا وه، په تېزۍ سره مې لاس پورته او په اوږه مې ښه کلک سوک (بوکس) ووایه کاواکه شو د مېز پرمخ ولوېد، خان یې ځمکې ته برابر کړ او په زنګونونو کېناست.

هتیوال زما پر لور رامنده کړه، په داسې حال کې چې لاسونه یې راته خوځول چیغې یې کړې: بې غېرته انسانه، په یو ګیلاس مشروباتو (شرابو) دومره مست شوې!

وخت مې ورنکړ او یو ښه زورور سوک مې په خېټه وواهه او همدا چې کوږ شو په یوه لغته مې ځمکې ته وغورځاوه.

په دې وخت کې استیو راپاڅېد او پرما یې برید وکړ، هتیوال هم ورسره ملګری شو، دواړو د وحشي ځناورو په څېر منځ کې راایسار کړم، بله چاره مې نه لرله هرڅومره چې ژر وای باید یو مې ترې له پښو غورځولی وای، هتیوال نابېره خان برابر کړ؛ خو دا چې زما پام د استیو پرلور و یو د بر کلک سوک یې په سر ووهلم؛ مګر دویم وار ته مې وخت ورنکړ او چپ لور ته په تاوېدو سره مې پرلپسې دوه کلک ګزارونه په تشي (پښتورګو) کې ور حواله کړل، فریاد یې وکړ او توازن یې دلاسه ورکړ.

استیو چې دا حالت ولید د شا لـه لوري یې راباندې برید وکړ، ما ددې دول برید ونو لپاره تل له یو ځانګړي مهارته ګټه اخیسته اوس نو همدا وخت رارسېدلی و چې د ښي لاس په څنګل یې د شا په لور په معده ووهم، بې له خنده یې ځان تېت او په ځمکه کېناست په همدې حالت کې چې هتیوال تازه لـه خپله ځایه راپورته شوی و بیا ځل یو کلک ګزار وواهه او بېواکه مې کړ.

ساه مې واخیستـه او دلاسونو تـر مرورلـو (سـولولو ) وروسته د استیو خواتـه ورغلم، هغـه لاهم نالښت کاوه. پـه بې رحمی مې ورتـه وویل:

څارویه ! ته هېڅکله نه شې کولی زما پر وړاندې ودرېږې !

مګر هغه پوره بېحالـه نه و او د څو لوڅو الفاظو پـه ویلـو سره یې راخبر کړ. نور مې زغم دلاسه ورکړی و ، تول زور مې راتول کړ او پـه یو ګزار مې بې واکه کړ.

په دې وخت کې مې هغې ځوانې نجلی تـه پام واړوه چې لـه استیو سره مې یو مېز تـه ناسته لیدلې وه. خپرې یې الوتې بنه غوره کړې وه، لړ وړاندې ولاړه وه او زموږ حالـت یې څـاره، پـر لـور یـې ورغلـم او پـه موسکا مې ورته وویل:

راشه ګرانې خپل عاشق دې پـه هوش راولـه، تا خو ولیدل چې زه پر نه وم او غوښتل مې د انسان پـه څېر څو خبرې ورسره وکړم.

نجلی ددې پرځای چې د ځوان (استیو ) پربوتي جسد تـه پام واړوي ما ته راواړاندې شوه او پـه ژړغونې بنه یې وویل:

ښاغلیه ! هرڅه چې غواړې لـه مـا نـه یې وپوښته، زه ژمنـه کوم چې خوابونه به یې سم درکوم.

ورته و مې ویل: سمه ده مګر د تېرو پښتو هڅه مې ونه کړې.

دامهال هتیوال تکان وخوړل او له خایه د راپورته کېدو په هڅه کې شو، ترځنګ یې ورغلم او په داسې حال کې چې د پښې په بوټ مې وواهه ورته ومې ویل:

- که انسان یې نور کار درسره نه لرم، پورته شه!

نجلۍ مې دلاسه ونیوله او د یو مېز تر شا کېناستو، هتیوال موږ ته یو بوتل مشروبات له دوو ګیلاسونو سره راول او خپله د ویجاړو او ګډوډو پرتو مېزونو په سمولو بوخت شو.

استیو ته په اشارې مې هتیوال ته غږ کړل:

- سمد ستي یې دا له کاره ولېدلی جسد تر هغې د هتمې شاته یو سه چې په هوش راځي. هتیوال همداسې وکړل او نجلۍ ته مې وویل:

- له څو مره وخته له دغه څوان سره بلد تیا لرې؟

هغې مشروبات وڅکل او بیا په ارامۍ سره یې ځواب راکړ:

- نه، ډېر وخت نه کېږي چې ورسره بلده شوې یم او تاسې ولې دغه پوښتنې له ما نه کوئ؟

- سمه ده ښکلې! دا ستا حق دی چې ما باید لومړی خپل ځان در پېژندلی وای، زه مایک هامر یم د خصوصي چارو کار پوه.

نجلۍ زما د نوم په اورېدو تکان وخوړل او په وجود یې ځانګړې وېره احساسېده، په حېرانۍ سره یې وویل:

- مایک هامر! رښتیا تاسې مایک هامر یاست؟!

-بلې ګرانې اړتیا نشته چې زه دروغ ووایم

-نو بیا زموږ په ښار کې وئ؟

- ستا په اړه نه، ددغه ځوان په اړه

- د استیو؟

- هو، استیو

خو زه چې له تاسي څه پوښتم پرته له نیمګړتیا به یې پوره ځواب راکوئ!

- ژمنه کوم ښاغلی هامر، زه ستاسې تابعداره یم

- ډېره ښه. لومړی یې له ځانه پیل کړه، نوم دې څه دی؟

- مارګرېټ "مارګرېټ اداوارد"

- ډېره ښه مارګرېټ، ته له څومره وخت راهیسې استیو سره پېژنې؟

- ۱۰ ورځو راهیسې

- یوازې ۱۰ ورځې؟

- هو!

- له دغه کس سره څنګه بلده شوې؟

- په سینما کې مو یو ماښام سره لیدنه وشوه

- په همدې سادګۍ؟

- هو، قسم خورم چې هو به هو، مې ربښتیا وویل، ما هېڅکله داسې فکر نه و کړی چې هغه به د پولیسو تر ځار لاندې وي

- ته څه کار کوې؟

- په یوې ګلفروشۍ کې کار کوم

- عجیبه ده! هغه تاسې ته نه و ویلي چې څه کار او مصروفیت لري او له کومې لارې د خپل ژوند اړتیا وې پوره کوي؟

- خو ویل یې چې مهندس دی

- ایا له هغه څخه په دغې موده کې کوم شکمن حرکت یا غیر قانوني کړنه ونه شوه؟

- نه، هغه ډېر مؤدب او یادګاره و

- نا د هغه د ژوندانه په اړه څه فکرنه و کړی؟

- لازمه مې نه ګڼله. تر اوسه مې د واده کولو کومه پرېکړه نه وه کړې

- تمه وه چې سره واده وکړئ؟

- هو ! همدا رنګ ښکاري‌ده
سګريټ مې بل کړ او ومې ويل:
- ډېر ښه، څنګه مو نن شپه دلته راپېښه وکړه؟
- پام کې وه چې نن مې د خپلې خور کور ته بوزي او له هغې سره مې معرفي کړي.
- د خور نوم يې څه دی؟
- لورا او په وينا يې چې همدلته نېږدې استوګنځای لري
اوس پوی شوم چې لورا به دغه ځوان سره همکاري لري او ددې سربېره چې ځوانو نجونو ته تېروتنه ورکړي، دوی له نيويارکه بېرون وړي او په ناولو کړنو يې اخته کوي چې مارلين هم له دغه حالته خوندي نه معلومېږي
مارګرېټ ته مې وويل:
نو بيا يې ته ولې تراوسه له خپلې خور سره معرفي کړې نه يې؟
هغې په ساده ګۍ ځواب راکړ:
څو ځله يې رانه غوښتنه وکړه چې ما د خپلې خور کورته ورولي؛ مګر ما نه منله؛ ځکه چې زه په کور کې يوه کوچنۍ خور لرم او نه مې شو کولای چې يوازې يې پرېږدم نن شپه مې هغه له خپلوانو کره ولېږله او خپله راغلم چې ! ستيو سره يې د خور کورته لاړه او ژر ترې بېرته خپل کورته د کوچنۍ خور په خاطر ستنه شم
ددغې نجلۍ په ساده توب ډېر خوابدی شوم او خپل ځان سره مې وويل چې کمبختې څومره نېک بخته يې چې زما په کرونده کې رازرغونه شوې، ولا چې که پښه دې دغه جهنمي کور ته وردننه شوې وه، د ژوند تر پايه به ددغه ځوان د ناولو هيلو قرباني وې
څو شېبې مو ترمنځ چوپتيا خوره وه، مارګرېټ له دغې چوپتيا ګټه واخيسته او وې ويل:

ښاغلی مایک ! تر اوسه دې ونه ویل چې استیو څه کړي وو چې تاسې یې څارنه کوله؟

ځواب مې ورکړ:

ګرانې مارګرېټ، د لوی رب شکر وکړه چې د دغه ناولي انسان له لومې دې نجات وموند، اوس دې سمدواره خپل کورته لاړه شه او راتلونکي لپاره خیر که اوسه چې د دغه ډول خلکو په خبرو نه ووځې.

مارګرېټ په ځیرکۍ وپوښتل:

- ښاغلی مایک، حقیقت راته ووایه چې نوره ویښه او هوښیاره اوسم

- غوږ ونیسه ! د استیو نیت دا و چې تا د خپلې یوې همکارې کور ته تر بیولو وروسته بې هوښه او بیا دې په ډېرې اسانۍ له نیویارکه بېرون وپلوري، په داسې حال نه یوازې دا چې د خپلې خور څېره به دې نه وای لیدلې؛ بلکې اړه وې چې د کلونو لپاره په ځانګړو مېخانو کې د بدلمنۍ کړاوو لړونکي ژوند وحشت وګالې.

ناڅاپه د مارګرېټ له خولې چیغه ووته، ځان یې زما غېږې ته راوغورځوه او په ژړا یې وویل:

- مایکه زه وېرېږم ما ته وژغوره !

له دې امله چې هغې ما ته په ډېره معصومه څېره د "مایکه" خطاب وکړ تعجب مې ونه کړ؛ ځکه هغې رښتیا یو رښتینې او صادق ملاتړي ته اړتیا لرله شاوخوا ځایونه مې تر څار لاندې ونیول او ورته و مې ویل:

ګرانې خوشبخته یې هرڅه په خیر ترسره شو و اوس پورته شه او خپل کورته دې لاړه شه، پرته له شکه به دې اوس کوچنۍ خور بېرته له دوستانو خپل کورته تللې او ستا په تمه به سترګې اړوي

هغه په کرار کرار له خایه پورته شوه او وروسته له دې چې خپل پېژند کارت یې ماته راکړ غلې یې وویل:

- ښاغلی مایک! تاسې باید زما احوال واخلئ، زه په ربښتیا یوازې یم

د هغې کارت مې په جېب کې واچوه او ورته ومې ویل:

- د یو ربښتیني صادق انسان په صفت دغه کار کوم، د لیدو په هیله مو.

وروسته مې هغه تر دروازې بدرګه کړه، کله چې تکسي ته پورته شوه زه ترې بېرته د هټیوال خواته راغلم او ترې مې وپوښتل:

- استیو چېرته دی؟

په مؤدبانه رویه یې وویل:

- د هټې شاته خونه کې ویده دی

- ورشه زما خواته یې راوله

هغه په بیړه د هټۍ شاته خونې ته لاړ او څو شیبې وروسته په داسې حال کې چې استیو ته یې اوږه ورکړې وه راغلل د استیو سترګه چې زما په سوک بانجاني اوښتې وه حالت یې د ېر ښه نه و. هغه یې په څوکۍ کېناوه او د یو ګیلاس مشروباتو تر اچولو وروسته مې ورته وویل:

- راځه دا وڅکه طبیعت به دې پر ځای کړي

پرته له کومې خبرې یې زما له لاسه ګیلاس واخیست او په غټو غټو غړپونو یې په سر راواړوه. ما هم خپل ګیلاس مشروبات وڅکل او ومې ویل:

- استیو څو لنډې خبرې درنه پوښتم، واضح او روڼ ځواب به راکوې، کنه نو خپله پوهېږې چې بیا خل دې پخواني حالت ته په وروستو له ژوندانه خوابدی کوم، پوهېږې!

تر دې وينا وروسته مې د خپل لاس پنجه راټوله او سترګو ته ورورانديې کړه، فرياد يې وکړ او وې ويل:

- ښاغليه! له ما څه غواړې، زه اصلاً تا هيڅ نه پېژنم او ددې اړتيا هم نه وينم چې ته ما وپېژنې.

- همدا چې يوازې زه تا پېژنم بسنه کوي، ووايه چې مارلين چېرته ده؟

ددې خبرې په اورېدو يې تکان وخوړل او وې ويل:

- زه مارلين نه پېژنم، ستاسې مو څه ځوک ده؟

- احمقه! زما خواب راکړه، زما سوکانو لا نه يې دردولی او دا وړتيا هم لرم چې سمدواره خپل کار پيل کړم.

- باور وکړه چې زه ستا په خبرو هيڅ پوی نه شوم (سر مې ستا په خبره خلاص نه شو).

په غوسه مې وويل:

- استيو ماغذه مې مه خرابوه، زما غوسه په هيڅ صورت ستا په ګټه نه ده، مارلين چېرته ده. د لورا لور درته ښيم او که يې درته عکس هم دروښيم؟!

د مخ په وراړولو مې له مړونده مې ونيوه او ورته ومې ويل:

- بې حيثيته انسانه د تېښتې په هڅه کې مه اوسه! زه له ټولو بدمرغيو خبريم او همدارنګه پوهېږم چې نن شپه له لورا سره د ليدو وعده هم لرې، زه هم د هغې څنګ ته ورغلې وم او له ټولې کيسې يې خبر کړی يم.

استيو په پرېشانی سره وپوښتل:

- لورا تاته څه وويل؟

- وې ويل چې تا مارلين تېروېستې

-لورا دروغ ویلي زه د مارلین په ورکېدو کې هېڅ لاس نلرم، هغې خپله خپله لور نادر که کړې چې بیې مخه خلاصه شي او د ځان کړي

-ډېر ښه، ټول څه راته ووایه!

❋❋❋

استيو يو ګيلاس نور مشروبات هم خانته واچول او وې ويل:
- رښتيا ښاغليه ستا نوم؟
- زه مايک هامريم
- ښه، هغه پېژندل شوی (مشهور) مايک هامر ته خپله يې؟
- هو، اوس ددې خبرو پر ځای اړوند موضوع باندې وغږېږه
- ډېر ښه، زه له لورا سره بلد شوم، ډېره ساده دوستي مو ده؛ مګر لورا زما لېواله شوه او پايله کې يې زه خپل کور ته له ځان سره يوړم په دغه تګ کې لږ لږ له مارلين سره هم بلد شوم هغه يوه ښه نجلۍ خو په عين وخت کې ډېره ښکلې هم وه، ما تمه لرله چې له هغې سره واده وکړم او له لورا به ډېر کله سره پټ يو ځای وو. د هغې ډېر ژر خپلې لور ته پام شو او په لنډه موده کې يې مارلين نادرکه کړه، تر هغې وروسته يې ماته وويل چې لور يې تېښته کړې
سر مې کښېن لور ته وګرځوه او ورته مې ويل:
- دروغ وايې!

- باور وکړه چې دا خبرې دروغ نه دي، زه نه پوهېږم چې لورا زما په نه شتون کې تا ته څه ويلي.
- هغې د دې برخلاف څرګندونې وکړې
- ښه پوهېږم چې لورا اوس غواړي له دې لارې له ما څخه خپل غچ واخلي
- مګر ته نن شپه له هغې سره د ليدو ژمنه نه لرې؟
- غوښتل مې يې ليدو ته يې ورشم
- او پام کې دې وو چې مارګرېټ هم له ځان سره ورولې؟
- هو، اعتراف کوم چې له ځان سره د مارګرېټ د بيولو نيت مې هم درلود.
- د کومې موخې د پاره؟ هغه خو ستا ملګرې وه؛ نو د مارګرېټ د بيولو څه اړتيا وه؟
- غوښتل مې هغې ته ووايم چې کوژده مې کړې
- چې څه وشي؟
- په داسې حال کې شونې وه ملګرتيا راسره پرېږدي او ترې خلاص شم
سر مې وخوراوه او ورته ومې ويل:
- نو بيا دې ولې مارګرېټ ته ويل چې د خپلې خور کورته يې بيا يې؟
استيو څه ونه ويل چوپ پاتې شو. له ګرېوانه مې ونيوه او زياته مې کړه:
- ناوليه انسانه سمه خبره وکړه چې مارلېن دې څه کړې ده؟
ځان يې ځنډې ته کړ؛ خو د بېړ ژر مې کاواکه کړ او د ځمکې په لور ورغی، لا مې لومړی سوک تر اوږې نه و ورغلی چې بل مې هم ترې ځار کړ. په غوسه مې ورته وويل: هو! الکه څنګه چې له خپل ژونده خبر لرم همدغسې له دې موضوع هم خبر لرم. په قهرېدلي غږ مې ترې وپوښتل:

- تاسې له هغې سره مستقیمه اړیکه لرئ؟

- هو ښاغلی مایک هامر، زه د هغې له کارکوونکو څخه یم؛ یوه شپه مو ناسته لرله، د کوئین مارلین خوښه شوه او ماته یې وویل چې هغه ورته ورولم ما له لورا سره د ملګرتیا پلان جوړ کړاو د اندېوالۍ تار مې ورسره وغزوه. لورا په ما مینه شوه، بلاخره مو سره مشوره وکړه او پلام کې وه چې مارلین په ډېره لوړه بیه پر کوئین وپلورو او خپل ژوند پرې برابر کړو.

- په دې معامله کې مو څومره اخیستې وې؟

- ۴۰۰۰۰ ډالر

- هغه پیسې مو څه کړې؟

- سمدستي زما او لورا په بانکي حساب کې دي او پام کې وه چې نن شپه د خوب پرمهال خپل ټول اړین اسباب راټول او کاناډا ته لاړ شو.

- استیو! زه تا ډېر ښه پېژنم، ته داسې څوک نه یې چې په اسانۍ سره دې له ژبې خبرې راووځي، دومره دې وهم چې تش کالبوت دې له ځایه وو ښتل شي!

په ناچارۍ یې وویل:

- صبر وکړه زه ټول څه درته وایم، زه له لورا سره همکار یم هغه مې بیا خل په څوکۍ کېناوه او ورته و مې ویل:

- ژر شه خبرې وکړه!

- هو ښاغلی هامر، ما او هغې مارلین په کوئین پلورلې ده ددې خبرې په اورېدو مې مغذو ټکان وخوړل.

- کوم کوئین؟

- لرډ کوئین ولې حېران شوې ښاغلی هامر؟

- تا د هغه استوګنځای لیدلی؟

- ځنګه به مې نه وي لیدلی، د هغه کور د نیویارک ۳۰ کیلو متری کې پروت دی.

- باوري یاست چې اشتباه نه کوئ؟

له دې سره مې په ملنډو وویل: ښه نو مارګریت هم بله نجلۍ وه چې په هغه یې وپلورئ؟

استیو خپل سر ځوړند کړ. نور نو زما انتظار بې ګټې و، هر څومره چې مې ژر د یو شي هڅه لرله هغه را معلومه شوه چې لرډ کوئین نه یوازې دا چې ځان وژنه نه ده کړې؛ بلکې په نامشروع او غیر قانوني کړنو کې هم لاس لري.

البته دا شک هم فکر ته راته چې ممکن کوئین په رښتیا مړ شوی وي او پرځای یې دویم کس د هغه نوم په خپل ځان اېښی وي. موضو ډېره بغرنجه او په عین حال کې جالبه هم وه.

د باندې مې وکتل هوا پوره تیاره وه. له ځایه پورته او استیو ته مې وویل:

- لاره راوښیه!

- چېرته؟

- د لرډ کورته؛ ځکه هغه ستا انظار نه کوي؟

څه یې ونه ویل، د هتیوال پیسې مې ورپرې کړې او د باندې راووتو. دا پلا د لورا تر استوګنځایه واټن ډېر نه و. همدا چې دروازه یې زموږ پرمخ پرانیسته، خوله یې له حیرانتیا ورانه پاتې شوه، د جامو له اغوستو یې معلومېده چې د سفر چمتووالی یې کړی وو، په خونه کې اېښودل شوي بېک یې څرګندوله چې نور له دې ځایه د تلو حالت کې دي، استیو مخکې او زه ورپسې دننه شوم، دروازه مې بنده کړه.

- مېرمن لورا ! له مزاحمت نه غواړم، فقط سفر په خېر درته وایم.
سفر په خېر !

د ټېلفون پر لور ورغلم او د پات شمېره مې ډایله کړه.

غوږۍ یې خپله پورته کړه، ترې مې وپوښتل هرڅومره چې ژر کېږي د لورا استوګنځای ته دې ځان راورسوي، ادرس مې ورکړ.

دوی دواړه مې پر څوکۍ کېنول او خپله ورته مخامخ کېناستم لا مې خپل سګرېټ تر پایه نه و څکلی چې د پولیسو د موټرو هارنونه مې واورېدل.

څه عجیب پات و، رښتیا هم چې هېڅ سستي یې نه وه کړې، لورا چې تر او سه چوپه ناسته وه په عاجزۍ یې وویل:

- هیله کوم په ما رحم وکړه !

پرته له ځواب ورکولو مې وخندل؛ څکه هغه ښځه چې په خپلې لور یې رحم نه و کړی، له نورو یې د رحم او شفقت غوښتنه کوله دوه دقیقې وروسته پات له څو تنو پولیسو سره راننوتل کله یې چې زه ولیدم په بیړه یې وپوښتل: مایکه څه خبره ده؟

له ځایه پورته شوم په داسې حال کې چې لورا او استین ته مې نغوته وکړه ومې ویل: سمد ستي خو دوی ونیسه ترهغې چې یې نور نېسم !

پولیس ترې راتاو شوو او د دواړو لاسونه یې ولچک کړل.

پات راوړاندې شو او ورو یې راته وویل:

- مایکه ! ته باید د پولیسو مخې ته ډېر څرګند نه شې، تراوسه دې بې ګناهي ثابته شوې نه ده، تر دې وړاندې ددغه هلک او مېرمنې د مجرمیت کوم دلیل نشته.

مخ مې راواړوه، سربېره پردې چې هغه مې کوله پېښې یې وکړم ځواب مې ورکړ:

- دا ښځه د هغې نجلۍ مور ده چې تاسې يې ماته عکس راکړی و، هغه نجلۍ مارلين نومېږي او د دغو دوو تنو هغه په لرډ کوئين پلورلې ده.

- لرډ کوئين؟

- هو، همغه کس چې ځان وژنې يې ټول نيويارک په لړزه اخته کړی و، زه همدا اوس هغه پسې ځم او ته مې د ټېلفون په انتظار اوسه

- ډېر ښه؛ مګر مايکه ډېر احتياط کوه چې د پوليسو ولکې ته ورنشې.

دباندې د وتلو په حال کې مې ورته په خندا وويل:

- چې له دوسته هرڅه راپېښ شي نيکي يې بولم!

❋❋❋

د لرد د استوګنځي ادرس راته یاد و. د هغه کور ته تر تلو وړاندې مې ولدا ته زنګ وواهه، له څو پرلپسې تالیو وروسته یې غوږۍ پورته کړه:

- ولدا ته یې؟

- هو مایک، ایا کار دې پای ته ورسېد؟

- نه ګرانې، کار مې پیل شوی او باید یو چېرته لاړ شم

- چېرته؟

- لرد کوئین پسې

ولدا حیرانه او په شوخۍ سره یې وویل:

- ایا ته د ښار مامور شوی یې؟

- نه ګرانې، وجود کې مې ساه نشته؛ کوئین ژوندی دی!

- مایکه ټوکې مه کوه، ولې هغه ځان وژنه نه ده کړې؟

د هغې وارخطایۍ ته مې خندا راغله، په حوصله مې وویل: ګرانې ولدا، نن شپه ارامه تېره کړه سبا سهار وختي لومړی ما ته زنګ ووهه که په اپارتمان کې نه وم؛ نو سمدستي پیات درسره راروان کړه او د

کونین کورته راشئ، د هغه د ځای ادرس مې درته په دفتر کې په کاغذ لیکلی پرېښی دی!

وړاندې له دې چې څه خبره وکړي لنډه مخه یې واخیسته او غوږئ یې کېښودہ.

کرایي تکسي مې ونیوله او چلوونکي ته مې د خپلې موخې اړوند ځای ادرس وکړ.

تر نیم ساعت مزله وروسته ورسېدم، تکسي ته مې کرایه ورکړه او خپله د ودانۍ په لور ورغلم دروازه بنده وه، په کراره مې لاس د زنګ تنۍ ته وغزوه او څو ځل مې کېکاږله؛ مګر څ درک وه نه لګېده، ځان سره مې فکر وکړ چې شاید په ودانۍ کې څوک نه وي؛ خو عقل مې دا هم نه منله چې څنګه دې دومره لویه ودانۍ له ټولو اسبابو او نورو اسبابو سره خالي شوې اوسي.

څو ځل مې د زنګ تنۍ وشرنګوله؛ مګر دا ځل بخت کار وکړ، د دروازې په قفل (قلف) کې د کلیګانو تاوولو اواز مې واورېد، د اوسپنیزې دروازې یو اړخ پرانستل شو، زوړ سپین سری چې لړه لړه ډېره یې هم په مخ ښکارېده راته مخامخ ودرېد.

په سپوره لهجه یې وویل:

څه کار لرئ؟

وړاندې تر دې چې دروازه بنده کړي په چټکۍ سره ورد ننه شوم او یو قوي سوک مې په ورمېږ ورحواله کړ. په پیل کې مې فکر کاوه چې زوړ سړی خو به یو یا دوه ساعته له ځایه د پورته کېدو تاب ونه لري؛ مګر تصور مې بشپړ ناسم و. دغه زوړ سړی نه یوازې دا چې زما په سوک له ځایه هم ونه خوځېده؛ بلکې د یو وحشي ځناور په څېر یې راباندې حمله وکړه. حمله یې ډېره مسلکي او پیاوړې وه؛ خو که د دقیقې ځان ساتنې هڅه مې نه وای کړې؛ نو د بدن ښي اړخ مې یې

زافلجه وو، ځان مې ترې وژغوره او يو مضبوط ګزار مې په خېټه ورخوشې کړ، کوږ شو او په دواړو لاسونو يې خپله خېټه ونيوه، ځان يې بېرته راسم کړ خو چانس مې ورنه کړ او يو بل چټک سوک مې هم ورحواله کړ په دې سره د مار په څېر تاو راتاو او ځمکې ته ولوېد. سمدستي مې له پښو وتړه او د دروازې ترڅنګ خونې ته کش کړ. همدا ساعت په پارک کې يو لوړ غږ پورته شو چې د زوړ سړي نوم يې اخيسته.

فلېپ- فلېپ چېرته يې؟!

پوهېدم چې له دغه سپين ږيري پرته وداني کې نور خلک هم شته، خپله خوله مې بنده وساتله او هملته په خپل ځاى ودرېدم. څو شېبې وروسته يو تور تندرسته (غوښن) سړى رابښكاره شو، ځان مې څنګ ته كړ، هغه زه نه ليدم؛ خو ماته په اساني ښكارېده، نږدې دوه قدمه به رانږدې شوى و، مخكې له دې چې بل لور ته وګرځي مخامخ مې پرې ورخېز كړ؛ خو تكړه و، سمدواره يې زما د برېد مخه ونيوله او دواړه ځمكې ولوېدو. په چټكۍ سره پورته شو او په داسې حال كې چې پر شوندو يې وېره وونكې موسكا ښكارېده لاس يې كمربند كې تمبلې تمانچې ته تېر كړ، كه مې لږه لټي كړې وه؛ نو له ژوندنه يې بېغمه كولم سمداسې مې په ملاستي لغته ورپورته او تمانچه لرونكى لاس سې يې پرې وواهه ژر راپورته شوم؛ خو هغه مې وليد چې تمانچه يې دلاسه ولوېده او سوك يې راخوشې كړ، ښه و دفاع مې وكړه او تر څو ګزارونو لاندې مې ونيوو. په دغه تكتيك سره ما دده په شان ډېر له پښو غورخولي وو؛ مګر په ده خنخير يې هېڅ اغېز ونه كړ. بله چاره نه وه پرته له دې چې د جودو- يو ډول كراتې ته ورته لوبه ده- له تخنيكه ګټه واخلم، په ځانګړي ډول دغه وخت كې له ډېر يو خطرناك او مرګوني حالت سره مخ وم-دا تخنيک بايد داسې وكارول شي چې سړى د مقابل

لوري مروند په خپلو متو کې تاو کلک ونیسي او ما هم همداسې وکړل- تور رنګي خپل لاس زما ورمېږ ته تېر کړ؛ خو د سنډا په څېر يې له خولې رمبارې او ځږونه ووتل، داسې رمبارې يې وکړې چې ټول بدن يې په لړزه شو. اوس نو ددې وخت را رسېدلی و چې يو بل ځانګړی مهارت هم وکاروم، مړوند مې يې شاته تاو کړ، څنګل يې زما په اوږه برابره شوه او په ټول قوت مې خپل لاس د ځمکې لور ته کش کړ. د هډوکو د ماتېدو غږ مې واورېد، په چپه پښه تاو او ښه کلک په ځمکه ولړېد، هڅه يې وکړه چې را پورته شي خو امکان يې نه و. په نهيلې څېره يې ورسره نږدې پرتې تمانچې ته لاس ورتېر کړ؛ خو وخت مې ورنه کړ او په ګوتو مې پښه ورکېښوده. تمانچه مې له ځمکه راپورته او ورته و مې ويل:

د ځان ژغورلو هڅه مه کوه، کنه ډېر ژر به جهنم ته ولېږل شې!

څه يې ونه ويل، مخ يې رانه واړوه او ښکارېده چې بېهوشه شو. کرار کرار د سپين سري تړل شوي پر لور ورغلم او په هوښ مې راوست، ډېرې ستړيا ته اړتيا نه وه يوازې دوه څپېړې يې دارو وې، پرې وربرګ شوم: پورته شه!

په ډېرې او ډار له ځايه پورته شو، احساس مې کړه چې زما دلاسه يې په زړه د ډېرې ساړه ننوتې ورتن. ومې ويل:

-فلبپه! رښتيا راته ووايه کنه حال دې دغه تورپوستي خنځير په څېر کوم.

-ډېر ښه، ووايه زه، زه...

خبرې مې درپرېکړې

-بايد ووايې چې لرد کوئين چېرته دی.

-هغه تراوسه همدلته دی

-په ودانۍ کې؟

- هو
- ځو تن نور ورسره دي؟
- پرته له ښځې نور ځوک ورسره نشته
- ښه نو راځه لار راښيه او ما یې څنګه ته ورولـه؛ خو ډاډه اوسه که دې یوه ګوته هم ښځایه و خوروله؛ نو یوه مرمۍ دې دارو دي!
تو ره ختی مخکې او زه ورپسې، له خونې ووتو د پارک په څنډه کې یوه دوه پوړیزه ودانۍ وه. فلیپ ته مې وویل:
- هغه په کوم پوړ کې دی؟
- دويم
په مخامخ مرمرینو زینو دواړه پورته شو. فلیپ لـه ۳ دروازو چپ ښي اړخ ته وې تېر شو او له څلورمې سره چې د بلاک په وروستۍ برخه کې وه ودرېد او وې ویل:
- ښاغلیه، دلته دی
- دروازه پرانیزه!
- ما سره کلي نشته
په قهر جنه ښه مې وویل:
- له ما پرته تر دې وړاندې په کومه لار ورتلې؟
- قربان، دروازه ډبوم
- ډېر ښه، اوس هم همداسې وکړه!
فلیپ دروازه وډبوله، تر شاه یې غږ پورته شو: څوک یې؟
- زه یم (فلیپ) ارباب صیب
فضا خاموشه ونیوه او څو شېبې وروسته لرد کوئین په دروازه کې راښکاره شو، د سترګو په رپ سره دننه ورغلم، په داسې حال کې چې تمانچه مې ورته ونیوه ومې ویل:

- شپه په خیر ښاغلی لرد ! ما فکر کوه چې ته مړ شوی یې او نیت مې درلود چې ستا وصیتنامه پلې کړم؛ خو له بده او که له نېکه مرغه وینم چې "تندرسته او تازه ښکارې !

کوئین چې لاس و پښې یې ورکې کړې وې د ژبې په "چړق" سره یې وویل:

- تاسې څوک یاست، هیله کوم ځان راوپېژنئ؟ !

په خندا مې ځواب ورکړ:

- عجیبه ده ! ایا تاسې ما نه پېژنئ؟

په دې وخت کې له یوې بلې خونې چې لار یې له همدې خونې وه، یو ښځینه غږ راپورته شو:

- ښاغلی کوئین ! څوک دی؟

له دې خبرې سره سم یوه ځوانه څېره راښکاره شوه چې زما له سره یې هوښ ورک کړ. دا انجلۍ دومره ښکلې او پرته له مبالغې وایم چې په دا ډول کمې جوړې مې لیدلې وې.

یادې مېرمن چې موږ په دغه خطرناک حالت کې ولیدو په خپل ځای د بوت په څېر ولاړه پاتې شوه.

لرد ته مې مخ وروا‌ړوه او زیاته مې کړه:

-ښاغلی لرد کوئین ! زه مایک هامر یم، اوس دې وپېژندم؟

هغه چې کم کم یې عصاب پرځای شوي وو په ډاډه غږ وویل:

- دا نو څه ډول برخورد دی چې له خلکو سره یې کوې، دا ستاسې په بشپړ زیان تمامېدونکې ده، زه د یوې معتبرې کورنۍ (د انگلستان اشرافو) له غړو یم، پوهېږې؟ !

د سر په خوځولو سره مې ځواب ورکړ:

-بلکل چې ته یو اشرف زاده یې (!)

سترګې مې د خونې په کونج کې پر ایښودل شوې الماری ولګېدې، له ښښو یې پوی شوم چې دا همغه الماری ده چې په اړه یې راته فرانسیس ویلي وو.
تمانچه مې همغسې د هغه په لور نیولې وه او د الماری پر لور ورغلم، کلکو تکانو سره مې پرانېسته، زما له ښه قسمته یاد البم (د عکسونو ساتلو کتاب) لا همدلته ایښی و، راوامې خیست او خلاص مې کړ. په ملنډو مې وویل:
- حتماً د معتبرې کورنۍ د مېرمنې عکس هم په دغه البم کې شته!
لرد په قهرېدلې لهجه چیغه کړه:
- زه نه پوهېږم چې تاسې د چا په اشاره د خلکو په شخصي ژوندانه کې لاسوهنه کوئ!
- زه راغلی یم چې له تاسې وپوښتم دغه البم د څه شي دی؟
- دا د یو ښو خانګړو عکسونو البم دی
- د عجیبو لو ښو عکسونو البم؟!
- هو؛ مګر دا چې کومه ګناه نه ده او نه مو ږ ددغو عکسونو په پېر و پلور بوخت یوو.
- رښتیا ده؛ مګر تاسې خپله دغه پلورلې ښاغلیه ووایه چې پوی شم ددغو عکسونو اصلي انسانان چېرته دي؟
- کوم خلک یادوې؟
د هغه خبرې ته له ځواب ویلو پرته مې وویل: تر دې وړاندې ستاسې خان وژنې په اړه لیک خپور شوی و.
- ما هېڅکله داسې دروغ نه دي خپاره کړي
- او همدارنګ مو خپله مېرمن هم وژلې ده!
لرد په کرس کرس خندل او زیاته یې کړه:

- اوس پوی شوم؛ خبرنو ته د هغه بې ارزښته کاغذ له اغېزه دومره غفلت کې لوېدلی یې. پوهېږې ښاغلیه! هغه زما دښمنان وو چې هغه اعتراف یې رابانندې په زور وکړ او اوس نه پوهېږم چې دا څنګه ستاسې تر ګوتو درغلی دی.

تمانچه مې په سینه ور زور کړه او ورته و مې ویل:

- نور مې زغم پای ته مه رسوه، زه له هر څه خبر یم، همدا اوس پولیسو ته زنګ وهم او هغه ښځه چې مو څه موده وړاندې تښتولې وه رابې ولې، دغه ښځه له خپل خاوند سره د لارې په اوږدو کې ستا په لاس نیول شوې وو، سربېره پردې چې له ښوزلې مو د هرې پیسې هم ترلاسه کړې وې؛ خو بیا مو هم هغه خوارکۍ په لومه کې ښلولې وه؛ مګر بلاخره په دې وتوانېده چې له منګولو دې خان وژغوري او زما ګام تر دې خایه راورسوي! - دا پېښه ۱۵ ورځې وړاندې رامنځته شوې وه-

خوانې ښځې چې زما خبرې واورېدې خواته مې راغله، ښنو ته مې وغورځېده او په ژړغوني غږ یې وویل:

- ده، دغه رذیل انسان زه هم تېروېستې یم ښاغلی هامر! هیله کوم ما ته له دغه ځایه نجات راکړه، خېر دی هیله کوم!!!

- ښه نو ته هم ددغه ځاروي صفته انسان په خبرو تېروتې یې؟

- هو ښاغلیه! ده زه د خپل منشي په صفت دلته مقرره کړې یم او تراوسه ۲ ساعته کېږي چې راغلې یم

- خپل بخت دلته راوستې یې، څنګه یې وګمارلې؟

- زما نوم "الېزابت جانسون" ده، د ګمارنې په یوې خبري ورځپانه کې مې ددغه سړي په اړه ولوستل او د ادرس په اخیستو یې چې په نیویارک کې و څنګ ته ورغلم، هغه راسره موافقه وکړه او زه یې له خان سره دلته راوستم پام کې و چې د اونۍ ۱۰۰۰ دالر تنخوا راکړي، ښاغلیه! ما ددغه جنایتکار له منګولو وژغوره!!!

- ګراني ډاډه اوسه چې نور به هېڅ زيان هم نه درپېښېږي، له نېکه مرغه چې ستا بخت وېښ شو کنه اوس به د هغو نورو نجونو په سرنوشت اخته وې چې عکسونه يې په دغه البم کې لېدل کېږي
لرد زما له يوې شېبې غفلت سؤ استفاده وکړه او خپله تمانچه يې راوويسته، په چټکۍ سره مې خان د ځمکې پر مخ ورغورځوه. يوه زربه ډزې وشوې؛ خو له سر نه پورته مې ولګېدې، په همدې حال کې مې لاس وغزوه او له پښې مې کش کړ، په ځمکه کلک ولګېده. مخې ته يې کېناستم او په داسې حال کې چې تمانچه مې ترې واخيسته ورته ومې ويل:
- خبيثه ! په دغه کار سره دې په خپلو ټولو پليتيو (ناولتياوو) اعتراف وکړ او پرته له شکه دې هر څه څرګند کړل د پات شمېره مې ترخنګ ولاړې ځوانې نجلۍ ته ورکړه او ورته ومې ويل چې سمدستي خان راورسوي !
لرد چې حالت بحراني او کاملاً د خان په زيان وليدل، پښو ته مې ولوېد او په زاريو يې پيل وکړ:
- ښاغلی مايک ! هرڅه چې غواړې درکرم يې، ما پرېږده، زه حاضر يم چې د خپلې شتمنۍ نيمايي بې درکړم
په غوسه مې ورته وويل:
- اى جنايتکار کوڅينه ! ته د مرګي لايق يې، ستا جزا فقط اعدام ده؛ مګر دا چې په هوښيارتيا سره ټولې هغه نجونې چې درسره په ولکه کې دي او عکسونه يې په دغه البم کې لرې خوشې کړې !
- مګر ښاغلی هامر ! دغه نجونې يوه يې هم دلته نشته، ټولې يې خارج ته لېږدول شوي دي
اليزابت د پات شمېره واخيسته، يوه شېبه وروسته د پات ټېلفون پر ليکه شو. ځوانې نجلۍ ته مې وويل چې ورته ووايي مايک يې

انتظار باسي؛ خو پات غوښتل له ما سره خپله خبرې وکړي، د غوږې پرلور ورغلم او ورته ومې ویل:

ای ملګریه! د برې خبرې پر برده، هرڅومره چې ژر کېږي د لرد کوټیر پارتمان ته ځان راورسوه، جنایتکار لرد ستا راتلو ته سترګې په لار دی! غوږې مې ژر کېښوده چې له ډېرو خبرو یې بېغمه شم

شاوخوا پاو وخت به نه تېر چې پات راورسېد او د لرد په لیدو یې په لوړ غږ وویل:

- ای ناروا انسانه! تا زه څومره خپل ساختګي قاتل پسې لار ورکی کړی وم

لرد، تور پوستی سړی او د دروازې ساتونکی یې د پولیسو موټر ته پورته کړل او زه او الیزابت د پات په موټر کې سپاره شوو.

کله چې ښار ته ورسېدو له پات بېل او الیزابت ته مې وویل:

-ښه ګرانې! زه حاضر یم چې تا تر خپل استوګنځایه ورسوم.

-ښاغلی هامر، تاسې غواړئ چې ما یوازې پرېږدئ؟

-ولې اړتیا یې وینې؟

-البته ما فکر کاوه چې ماښمنۍ سره په ګډه وخورو

-ډېر ښه، زه څه نه شم ویلی

-وروسته تر هغې!

-وروسته تر هغې څه؟

-ما به له ځان سره خپل استوګنځای ته بیایې!

همغه دول چې مې وویل، الیزابت ښکلې او ځوانه وه، پروراندې یې چوب پاتې شوم

***

کله چې سهار له خوبه راپاڅېدم اليزابت سهارنۍ تياره کړې وه، ورته ومې ويل:

- ګرانې ته به مې بد عادت کړې!

- څنګه مايک؟

- دا څکه چې زه هره ورځ په نهره (لوږه) له کوره ووځم

وې خندل او زياته يې کړه:

- باک نه کوي اوس پورته شه "ته" تر هغې تازه هوا اخلې زه به غوښه هم توده کړم په دې وخت کې د ټېلفون ټالۍ وشرنګېده پوی شوم چې ولدا ده. دا چې سره مو ژمنه کړې وه چې سهار لومړی زنګ ماته راووهي، ژر مې غوږۍ پورته کړه:

- هلو!

- مايکه برېالی شوې؟

- هو ګرانې

- لرد څنګه شو؟

- هغه مې پات ته حواله کړ او اوس په زندان کې دی
- ښه، نن دفتر ته راځې؟
- شاید؛ خو فکر کوم څه نا څه نور اړین کارونه هم لرم
- ډېر ښه، بس زه همدا اوس دفتر ته ځم

همدا چې غوږۍ مې کېښوده الیزابت لکه چې زموږ په جوړه پوی شوې وي په خیرکۍ او کینې سره یې وپوښتل:

- فکر کوم له کومې ښځینه سره مو خبرې کولې؟
- هو ګرانې الیزابت دا مېرمنه زما منشي ده
- هغه درباندې ګرانه ده؟

ومې خندل او څېرې ته یې ځیر شوم، رښتیا هم چې په لیدو یې نه مړېدم په هر حال د ستړیا د ارام او تسکین په خاطر د مېز تر شاه کېناستم او خوراک مو پیل کړ.

د سهارنۍ خوړلو پرمهال یې د خپلې ژوندګۍ په اړه ډېر معلومات راکړل او په پای کې یې رانه وغوښتل چې بیا ځل یې وګورم

هغې ته مې ډاډ ورکړ او له کوره تر راوتلو وروسته مو سره مخه ښه وکړه کله چې دفتر ته ورسېدم ولډا راغلې وه او په بې صبرۍ یې وپوښتل:

- ښه مایک، ورته چې لرډ کوئین بریان څنګه و او څه ګه دي ونیوه؟

سګریټ مې ولګوه او هغه څه چې راپېښ شوي وو پرته له لنډیزه مې ټول ورته بیان کړل، البته د الیزابت په اړه مې ورته ورته څه یادونه ونه کړه او په پای کې مې زیاته کړه: په هر حال ګرانې ویلډا ! تر دغه ځایه خو ایله نیم کار ترسره شوی دی، هغه هم که لرډ په خپلو جنایتونو اعتراف وکړي زه ژغورل کېږم؛ ځکه هغه خلک چې په پټه زما پارتمان ته ننوتي او زما تمانچه یې له ځان سره وړې وه له لرډ کوئین سره یې

اړیکه لرله پرته له شکه چې دغه دله له آلجیسون سره تړاو لري اوس که ووایم چې خپله لرد کوئین دغه کار کړی؛ نو بیا پرته له شکه چې په دغه کار کې د خیل و او خپله همدا و چې فرانسیس یې په نورو جنایتکارانو پلورلی دی.

- مایکه! فکر نه کوې چې نسلن به همغه لرد کوئین وي؟

- دا نه شم ویلای؛ مګر دا کره خبره روښانه ده چې فرانسیس د کوئین په کور کې له هغه سره کومه اړیکه نه لرله

له دې پېښې دوه ورځې تېرې شوې. کوم خلک چې نیول شوي وو د آل جیسون د وژنې په اړه تري هېڅ معلومات نه وو ترلاسه شوي، زه لاړم د ښار مسوول ته مې ځان ور وپېژند او د پات په مرسته و توانېدم یاده قضیه کې برآت واخلم؛ مګر تراوسه د دغه جنایت اصلي عاملین نه وو نیول شوي

لرد کوئین تر نیول کېدو یوه ورځ وروسته په زندان کې ځان وژنه وکړه. د هغه وژنه د هغه لړه اندازه زهرو په واسطه وه چې د په لاس کړې ګوتې په مرسته یې له ځان سره پټ کړي وو؛ خو د هغې بېوزلې نجلۍ ماجرا یې هم د تل لپاره ګونګه پرېښوده چې دده په لاس بندۍ شوې وه.

په هرحال زه توانېدم چې له پولیسو برآت واخلم او له پات څخه مې غوښتنه وکړه چې له هغه ترکي وګړي سره چې د آل جیسون په مېلمنو کې شمېرل کېده او دمګړۍ په زندان کې پروت دی ما ته ورسره د لیدو زمینه برابره کړي

کله مې چې هغه زندان کې د پنجرو ترشاه ولید په ځای حیران کېناستم اصلاً دا سړی یو ډنمارکی قاچاقبر و. ما خپله له هغه سره څو ځل پنجه نرمه کړې وه او په وروستي ځل چې مې په فرانسیسکو کې ولید په چالاکۍ سره و توانېد چې ځان رانه ورک او په تېښته بریالی

شي؛ مګر دا چې اوس يې څنګه ځانته د ترکي استوګن نوم او هويت ټاکلی و، نه پوهېدم؟

برعکس هغه هم زما په ليدو حيران شو، په خندا مې وويل:

- اسميت! ما پېژنې؟

- څنګه به شونې نه وي چې تا ونه پېژنم، ښاغلی هامر

- په زندان کې څه کوې؟

- ولا خپله هم نه پوهېږم؛ خو باور لرم چې پرته له کوم تور پا جرم دلته زنداني شوی يم

ځان يې د مړ موږک په څېر ناګاره اچولی و؛ ځرګنده مې کړه چې خبرې يې مې منلې دي په هيله منه لهجه مې وويل:

- ايا غواړې چې له زندان څخه آزاد شې؟

په بېړه يې ځواب راکړه:

- دا زما هيله هم ده!

په دغه وخت کې يې خپله خوله زما غوږ ته راوړاندې کړه او کراره يې وويل:

- ددغه کار لپاره تيار يم چې ۵۰۰۰۰ ډالر هم تاته درکړم، ته د پوليسو په اداره کې ښه نفوذ لرې او پوهېږم چې په اسانۍ سره ما ژغورلی شې.

- اسميت: زه څه نه شم ويلی: مګر ته بايد هغه څه ووايې چې رامنځته شوي دي، البته په رښتينې ښه!

- مايکه غوږ ونيسه! سمه ده چې زه به ښه مخينه نه لرم او مخکې به مې له قانون سره په ټکر کې پر بلا چارو لاس پورې کړی وي؛ خو باور وکړه چې له څه مودې راهيسې مې له تېرو اعمالو سره مخه ښه کړې ده مالـه پخوا آل جيسون سره پېژندل هغه يې زه کورته ور وغوښتم، د مېلمستيا پرمهال څو تنو ناپېژاندو پرموږ بريد وکړ او يوازې زه توانېدم چې له پېښې ناتاره روغ راووځم.

دغه مکار انسان (اسمیت) په هېڅ وجه دې ته چمتو نه و چې اصلي پېښه بیان کړي او اوس هم زما د تېرو ښستو په هڅه کې و؛ خو دا چې د جرم د ټولو شریکانو په له منځه تللو باوري وم او یوازې همدی دی چې کولی شي له پټې پردې هاخوا معلومات راکړي په سړه سینه مې ورته وویل:

- ډېر ښه اسمیت، زه خپله هڅه کوم.

په خوښۍ سره یې وویل:

- مننه کوم مایک، کله کله پخواني ملګري د انسان درد ته دوا کېږي.

له دې ځایه د سترګو په رپ کې د پات څنګ ته ورغلم زما په لیدو یې سر د دوسیو له لوستو راپورته کړ او وې پوښتل:

- ښه، څه دې ترلاسه کړل؟

مخامخ ورته کښناستم:

- پاته! زه باور لرم چې باید دغه کس آزاد کړئ

څو شېبې یې راته حېران حېران وکتل او په قهرجنه لهجه یې وویل:

- عقل دې لکه چې له سر نه وتلی دی؟

- نه ښاغلی، د دې برعکس دا کار په بشپړه توګه زموږ په ګټه دی

- زموږ په ګټه دی چې هغه آزاد او په تېښته بریالی شي!

- نه پات ته اشتباه کوې، هغه ډېر کارونه لري او د ستونزې د حل په موخه له نیو یار که بیرون نه ووځي.

پات له خپله ځایه پورته او په متفکرانه بڼه یې وویل:

- زه نه پوهېږم؛ خو ستا په نظر به دغه کار مثبته پایله ورکړي؟

- سل په سلو کې

- ډېر ښه؛ مګر ډاډه یم چې په خپلو دغه ډول طرحو به بالاخره ما هم له شتنه دندې خلاص او په کور کېنوې!

***

شاوخوا دوه ساعته وروسته اسميت له زندانه آزاد او خپل کور ته لاړ. ما هم چې خپل غشي په لينده کې ايښي و، د پارتمان مخې ته يې خوراکه پلورنځي کې ښکار ته چمتو کېناستم دا ډېر مناسب ځای و او په اسانۍ سره مې کولای شو د مشروباتو څکلو سربېره هغه ترخپل ځار لاندې ونيسم په زړه کې پوهېدم چې د ټولو غوټو سر له همده سره دی؛ خو معلومه نه وه چې دی به کله خپل کار پيلوي؟ دا لا معلومه نه وه.

په هر حال ډېر انتظار ته اړتيا پيښه نه شوه او تر نيم ساعت څخه وروسته اسميت له کوره راووت، ډېر محتاط ښکارېده، په دقت سره يې شاوخوا ځارله او کله چې ډاډه شو څوک يې په ځار کې نه دي د سپين شورلېټ( يوماډل پخواني موټر دي ) والگا په لور چې له سړک هاغاړې ته ولاړ و ورغی.

دغه موټر له همغه لومړي سره زما پام وراړولی و، چلوونکي خپل سر وخوراوه او د اسمیت تر ورپورته کېدو وروسته یې په چټکی سره حرکت وکړ.

په بیړه له خوراکه پلورنځي راووتم او په لاره تېرېدونکې ټکسي ته مې لاس ونیوه، کله چې ټکسي کې کېناستم، چلوونکی یې چې نیمځالی عمر لرونکی و ورته ومې ویل:

- هغه وړاندې سپین شورلېټ څاره!

هغه هم موټر ته پونده ورکړه او په خندا یې وویل:

- لکه چې ترمنځ د میني محبت څه راز شته؟

په بې حوصله گۍ مې ځواب ورکړ:

- ته په دې چارو کې کار مه لره! که دې له نظره لرې نه کړ؛ نو ۵۰ ډالر انعام هم لرې! چلوونکي خپل سر وخوارووه او د موټر ځغاسته یې گړندۍ کړه. سپین شورلېټ په لیونتوب سره لار لنډوله او موږ یې هم په څار کې وو. په همدې بڼه په تلو تلو کې له څو جادو تېر او له ښاره ووتو، اوس نو حالت مخ په خرابېدو وو. د اسمیت موټر تر موږ گړندی او نوی و، ما به چې هرڅومره په خپل چلوونکي فشار راووړ؛ مگر بیا هم نه بریالي کېدو؛ ځکه زموږ موټر زوړ او د اسمیت له موټر سره پرتله کېدل یې له امکان لرې وو. څو شېبې وروسته سپین موټر له موږ پناه شو؛ مگر ما هڅه کوله چې هیله من اوسم او چلوونکي ته مې د مخکې تگ غږ کاوه. یو ځلور لارې ته په رسېدو مې چلوونکي ته د ودرېدو امر وکړ، خپله راځکته شوم او ځلور لارې مې بررسي کړ، په اسانی سره وتوانېدم د هغوی لوری معلوم کړم- د تېرونو له خاپونو (لیکو) مې معلومه کړه چې په کومه تللي- بېرته موټر ته پورته شوم، دغه جاده له څو کېلو متره واټن بېرته له اصلي جادې سره تړل شوې وه، کله چې موږ د اصلي جادې سر ته ورسېدو له لرې مو درک کړه چې سپین موټر

د سړک په يوه څنډه کې ولاړ دی. زه پوی شوم چې موټر چلوونکی پر ته له دې چې زمونږ څار ته پام وکړي په غلطو لارو راغلی او په دې موخه بې خپل خان له احتمالي خطره ژغورلی دی.

شاوخوا ۲۰ متره لرې له ټکسي پلی شوم او چلوونکي ته مې له پيسو ورکولو وروسته هغه رخصت کړ. په داسې حال کې چې تمانچه مې په لاس کې نيولې وه د شورلېټ پر لور ورغلم، د موټر منځ کې څوک نه و، لږ اخوا مې پام يوې کلا ته واوخت چې له جادې ورانده واټن کې يې موقعيت درلود، پرته له شکه چې اسميت او چلوونکی يې په دغه ځای کې پټ شوي وو، کرار کرار يې پر لور ورغلم آن تر دې چې د دروازې شاته يې ورسېدم، غوښتل مې چې دروازه پرانيزم خو د دوو تنو غږ مې واورېد، اورېدو ته يې خير شوم، يو تن مې په کې وپېژند چې خپله اسميت و؛ خو مخاطب يې چلوونکی نه و. اسميت ورته وويل:

- "جک" بنه نو هغوی دلته راځي؟

- هو قربان همداسې پام کې ده.

- ايا ته فکر کوې چې دغه موټر (شورلېټ) موږ د لورا تر څنګ رسوي؟

- شک نه لرم صيبه

- نجلۍ څنګه کېږي؟

- يوه له ځان سره راولي او بـه همدا نن شپه اوبه کوي (پلوري يې).

- بنه نو هغوی له موږ سره نه راځي؟

- نه بناغليه، هغوی ستاسې له تلو خبر نه دي.

اسميت په خوښۍ ځواب ورکړ:

- ښه ښه همدا اسې غوره ده، رښتیا له بل اړخه حالت ډېر خراب وو؛ خو له ښکه مرغه مخکې تر مخکې یې چې له ځان سره تیا زهر زندان ته رادننه کړي وو وې خوړل او خپل کار یې خپله وکړ.

- ښه نو د هغه له شره هم په امن شوو!

نور مې زغم پای ته رسېدلی و، په لغته مې دروازه خلاصه کړه او دننه لاړم:

- اسمته! ته تراوسه د مایک له شره خلاص شوی نه یې!

دوی زما په لیدو وحشتناک ټکان وخوړل، اسمیت غوښتل خپل لاس تمانچې ته وغزوي؛ خو ورغږ مې کړ:

- اسمیته! ما ستا ټولې خبرې واورېدې، نور دې ژغورنه ناشونې ده!

هغه هم په تندې لهجې وویل:

- مایکه ته له ما څه غواړې؟

- ته له ما ښه پوهېږې!

ترلږ فکر وروسته یې ځواب راکړ:

- یاد مې شوو! ډېر ښه زه مې تراوسه په خپلې ژمنې ولاړ یم بیا یې خپل چلووني ته وویل: جک! د پیسو کڅوړه دې دلته ده؟

- هو، رباب لاندې دی، نېږدې دی

- ډېره ښه، ورشه راېې وړه چې دغه ښاغلی له ما نه ۵۰۰۰ ډالر غواړي

په خندا مې وویل:

- اسمیته! خره بې دې پرېږده، زه دلته د پیسو غوښتلو ته نه یم راغلی!

- ښه نو له ما څه غواړې؟

تمانچه مې سینې ته ور وړاندې کړه او زیاته مې کړه:

-زه راغلی یم چې رښتیا معلوم کړم ښاغلی سمیت ! (حقیقي لرد کوئین)

په وحشتناکه څېره یې راغبرګه کړه:

-ښه نو ته په ټولو مسایلو پوهېدې؟

-هو ! پرته له شکه په ټولو لوبو !

اسمیت د "حقیقي لرد کوئین" جملې په اورېدو ناڅاپه په ما برید وکړ؛ مګر وخت مې ور نه کړ او په یوه او سپنیز سوک سره مې اړخ ته وغورځوه، د لیوني حېوان په څېر ګنګس و ګول ولوېد. چلوونکي یې چې دا حالت ولید لاسونه یې په خپل سر ونیول او په عاجزۍ یې وویل:

-ښاغلی مایک زه تسلیم یم !

په خندا مې وویل:

-ډېر ښه، ورشه دغه لرد خالي سلاح کړه !

اسمیت پرې ورغبرګ کړ:

-چارلېز ! له خپل ځایه ونه ښورېږې ته باید زما په وړاندې د کوم حرکت جرآت ونه کړې !

چلوونکی ما ته تر راکتلو وروسته د اسمیت په پر لوروغی، جېبونه یې ورتالاشي کړل او یوه ۳۸ نمبر کالبیر تمانچه یې ترې وایستله

اسمیت ته مې وویل: بلاخره یې منې چې لوبه زما په ګټه تمامه شوه !

په نهیلی یې وویل:

-مایکه لاهم وختي دی، مونږ کولی شو یو بل سره ګډ اوسو.

ناڅاپه مې وخندل او ورته ومې ویل:

-زه هېڅکله ستا په څېر انسانانو سره جوړېدای نه شم

-مګر مایکه ته تېروتنه کوې

- تېروتنه کوم؟ آه احمق اسمیته بیاخل دې پیل کړه؟ ما سره بشپړ دلایل او اسناد شته؛ خو چې ته یو ځل په بربېښنايي څوکۍ کېنول شې بیا به د انساني قاچاق سرېېره د نورو جرمونو په اعتراف هم ایله و نه کړې، ته د ګنو سرغړونو مرتکب شوی یې او اوس فقط یوه لار لرې!

په نه زړه یې و پوښتل:

- کومه لار؟

ګمان یې و چې په جوړېدو ورسره راځي شوی یم تر لږې چوپتیا وروسته مې په ملنډو ورته وویل:

- دا چې د انساني په څېر د پولیسو تر ادارې راسره لاړ شې.

اسمیت خپل لاسونه وځنډل او وې ویل:

- ډېره ښه وینې چې زه دې پوره په واک کې یم او ورسره یې زما په لاس کې نیول شوې تمانچې ته اشاره وکړه (اختیار ستا په لاس کې دی).

په خواب کې مې ورته وویل:

- سمه ده مګر ته له هغو خطرناکو ځناورو څخه یې چې تر وروستیو شېبو هم درنه غافل نه شم

ترځنګ ولاړ چارلېز ته مې وویل چې د پولیسو ادارې ته ټېلفون وکړي؛ خو اسمیت مداخله وکړه او وې ویل:

- د کور ټېلفون کار نه کوي، لیس یو، یرې شوې

- باک نه کوي فکر نه کوم چې د وسره به موږ هم ټېلفون ته اړمن او سو، درځه اوس د تلو لار ګوره اخو نا ثا په یو اړخه ته کوږ شو او ترځنګ یې ایښی کوچنی میز راپورته او زما په لور یې راګزار کړ. ما ته هم سخته نه وه او کولی مې شو چې په یوې ضربې سره یې سابه ور په مالګه کړم؛ خو دا کار مې ونه کړ؛ ځکه د هغه ستې ددې اړتیا لرله چې په محکمه په خپلو ټولو جنایتونو اعتراف وکړي. په چټکۍ مې ځان د

مېز له خطره بچ کړ او په هغه لاس مې په ورمېږ يو کلک ګزار وکړ چې تمانچه مې په کې نيولې وه. دا ګزار دومره قوي و چې آن لاس مې درد وکړ؛ خو هغه ځناور له معمولي بې حسۍ بيا ځل بريد ونه پيل کړل، زما دلاسه يې د تمانچې اخيستو هڅه پيل کړه؛ خو په همغه لومړني ځای د دويم ګزار په ورکولو سره پوی شو چې د وژلو نيت يې نه لرم؛ نو هڅه يې کوله خپل کار وکړي.

ما هم نه غوښتل حالت د خرابۍ خواته لاړ شي؛ خو هغه پرلپسې هڅه کوله چې په هرقيمت وي له منځه مې يوسي او د بيا ځل ژوند چانس ومومي. د تېښتې په صورت کې يې باوري وم چې سرنوشت به يې مرګ وي خو غوښتل مې ژوندی يې ورولم، تمانچه مې په جيب کې واچوله او دريیم ګزار مې پر اوږه ور حواله کړ؛ خو غبرګون يې تند و او ناڅاپي بريدونه يې پيل کړل، پوزه مې په وينو رنګ او د وجود غړي مې سست شول. په دغې تولهموده کې چارلېز همداسې رډ رډ راکتل او له ډاره يې جرآت نه کوه چې دغه پيل شوي کړکېچ کې مداخله وکړي حواس مې لږ راټول او اسميت ته د يو قهرجن ګزار په ورکولو سربېره مې دا هم ورته وويل:

- اسميت هوښيار اوسه! نه دې پرېږدم چې دا پلا تېښته وکړې، ددې چارې کوچنی زيان دادی چې بلاخره به زما په لاس ووژل شې!

خو اسميت زما خبرې يو غنيمت وګڼه، په يو ځرګند حرکت سره يې خپل ځان زما له منګولو خلاص او د کور د کتاريو په لور منډه کړه، نېږدې وو چې له دې ځايه لاندې ولوېږي او شونې وه چې په خپله تېښته کې بريالی شوی هم وای. چارلېز چې د لارې په سر حېران ولاړ و په بيړه له کوره د کتاريو پر لور ورغی.

ورغږ مې کړل: چارلېز را ايسار يې کړه!

کله مو چې د کلا دروازه پرانسته، د ګلانو شاوخوا مو په ډېره بېړه وپلټله؛ مګر د هغه کوم څرک نه لګېده، پرته له شکه چې ځان يې د کلا تر شاه ولاړو ګنو ونو کې پټ کړی و. کله چې چارلېز بېرته راستون شو نه ګرېوانه مې ونيوه او ورته ومې ويل:

- چارلېز غوږونه دې خلاص کړه ! که د تېښتې يا له هغه سره د همکارۍ نيت لرې؛ نو پوه شه چې دوسيه کې ورسره د جرم د شريک په توګه را اولم او د تل لپاره دې زنداني کوم.

خوله يې خلاصه کړه او په هيله منده سره يې وويل:

- ښاغليه ! زه... زه له تاسره يم

- ډېره ښه، اوس بايد دواړه ترهغې وګرځو چې هغه ناولی پيدا کړو- له له کېڼ لوري او زه به له ښي لوري پلټنه پيل کړه او همدا چې ودې ليد نو غږ وکړه او ما خبر کړه، پوه شوې؟

- هو قربان

- اوس يې نو څاره !

هغه په څمکه يو پروت اوږد لرګی را واخيست او زياته يې کړه:

- ښاغليه ډاډه اوسه تېښته يې ناشونې ده.

په هغو لوريو چې له وړاندې مو ځانونو ته ټاکلي وو روان شوو او په دې سرۀ زما ستونزه هم لږ روښانه شوه. همداسې کرار کرار مخکې تلم. په دغه چاپيريال کې د اسميت مونډل ستونزمن کار و؛ مګر موږ بله چاره نه لرله، تر ډېرو هڅو او ځار وروسته يې هم څه درک ونه لګېد، بس تا به ويل چې ځمکه وچاودېده او دی په کې ننوت. ډېر ستومانه او اند ېښمن وم، د خپل ټول ماموريت په اوږدو کې په داسې چالانه وم نېروتی، سخت دوکه باز او ناولي انسان زما له چنګه تېښته کړې وه او حتماً يې اوس په کيلومترۍ واټن وهلی و.

لاسونه مې سره ومروړل او د چارلېز د احوال اخیستو په نیت د کلا پر لور روان شوم؛ ځکه چې په ټوله پلټنه کې یې کوم غبرګون او د همدې ناخبرتیا له یې راته شک پیدا کړ.

کله چې کلا ته نېږدې شوم، له دننه نه د چا ځرک نه لګېده، د ستګیر مې تاو کړ، همدا چې ور مې پرانست د څټ له لوري راته تمانچه ونیول شوه اسمیت په امرانه بڼه وویل:

- که دې تکان وخوړل څټ دې سوری کوم!

په داسې لومه کې لوېدلی وم چې هېڅکله مې تصور نه و کړی، په کراره سره مې مخ راواړوه، په داسې حال کې چې د اسمیت پر شونډو زهرجنې موسکا خپې وهلې زیاته یې کړه:

- فکر دې نه کاوه چې په داسې دام کې به کېوځې، مایک هام یوه نه منوونکې ماتې!

سره له دې چې له ځانه مې پوښتل: نو بیا چارلېز چېرته دی؟ د اسمیت خواب مې په سره سینه ور کړ:

- هو! داسې ناڅاپي لومه چې ښه موقع یې په لاس در کړه.

- ډېر ښه، ډېرې خبرې پرېږده او ژر کوله مخ دېوال ته واړوه!

د هغه له اطاعت پرته مې بله چاره نه لیده، شاید تصمیم یې و چې ما د هغو خلکو په څېر چې د اعدام حکم پرې تطبیقېدونکی وي د مرمیو له تېغه تېر کړي

سمدواره یې امر وکړ چې د دېوال پر لور ولاړ شم، په ورو روان شوم او دومره ترې لرې لاړم چې د کلا دېوال ته مې لاسونه ورلنډ شوو. اوس نو هغه طرحه چې مې له ځان سره جوړه کړې وه باید پلې شوې وای ناڅاپه مې پښه دېوال ته اړم او ځان د هغه پر لور ورخوشې کړ، تقریباً داسې کړنه چې یو په سله یې د بریالیتوب امکان و. هغه یوه ضربه دزې وکې؛ خو زما د لاس سره نېږدې دېوال باندې ولګېدې، لاس مې پورته

او يو پيا وړي سوک مې ور حواله کړ، په بيړه مې د لاس له مړونده ونيوه او په نرمۍ سره مې ورته وويل: اوس به مې خپله ځان وژلی وای په لاس يې د لغتې راکولو هڅه وکړه؛ خو په ورون (پنډۍ) ولګېدم؛ مګر زما پرلپسې ګزارونه چې د بدن په مختلفو ځايونو يې لګېدل حالت يې ورخراب کړ او بې سده جسد يې پر ځمکه پرېوت له ځايه پورته شوم چارلېز چې تازه کلاته رادننه شوی و ورته ومې ويل:

- ورشه په کومې وسيلې د پوليسو اداري ته زنګ ووهه!

چارلېز چې همغسې يې په الوتي رنګ راکتل ځواب راکړ:

- مګر ښاغلی هامر دلته د ټېلفون اسانتيا نه شته

- سمه ده، ښه نو اوس دا جسد راپورته کړه او ماپسې راځه بياد د پوليسو مشر "پات چامبرز" په دې پوی شي چې "مايک هامر" هېڅکله هم اشتباه نه کوي

❋❋❋

"اسمیت" په خپل جنایت په دې ډول اعتراف وکړ: "څو کاله پخوا یې انګلیسي لرد کوئین په لندن کې وژلی او وروسته له هغې چې د هغه شتمني یې تر ګوتو کړې د هغه د مېرمنې په مشوره له ده سره یې همکاري لرله امریکا ته راغی او د لرد کوئین په نوم نوی ژوند پیلوي

څه موده وروسته دغه مېرمن او خاوند ځانونه وژني او په دې ماجرا کې یې له پخوانیو دوستانو "نلسون" او "آل جیسون" له هغه سره لاس یو کوي، څه وخت وروسته آل جیسون له هغه سره اختلاف رامنځته کېږي او هڅه کوي اسمیت خپل تابع وګرځوي د دې چارې ګټه همدا وه چې د مولیدل د محدره تو کو قاچاق او سپین پوستو نجونو پیر پلور و. بلاخره یوه شپه آل جیسون او دوستان یې لږ له اسمیت (لرد کوئین) څخه لرې شوي وو، تصمیم نیسي چې هغه د خپلې مېرمنې د وژلو په تور ورک کړي او دغه اعتراف لیک ترې په زور اخلي او زما په ادرس یې رالېږي؛ مګر اسمیت چې د دوی له دې مسلې خبر و وروسته له دې چې د دوی له چنګه خلاصېږي له خپلو ملګرو سره په ګډه زما پارتمان ته راغی؛ خو دا چې زما په موندلو نه توانېږي زما تمانچه له ځان سره

وړي او په واسطه يې همغه آل جيسون وژني او د فرانسيس خاوند چې د اسميت په امر بندي شوی و په همغو لومړيو کې ددوی په لاس وژل کېږي "

په هرحال د اسميت له دغه اعتراف وروسته د هغه ټوله ډله چې له پليټو متشکله وه زندان ته ولېږل شو او څو ورځې وروسته د برېښنايي څوکۍ په واسطه د ژوند له خوږو بې برخې (اعدام) شوو.

په داسې حال کې چې په جامو کې نه ځايدم د ولډا ترڅنګ ورغلم او ورته ومې ويل:


- ګرانې وې ليډل چې ټولې سرګردانۍ مې ختمې شوې !

- ښه مايک ! اوس پوهېږې څه کار وکړې؟ خوښه دې ده چې د څو ورځو چکر لپاره هاوای ته لاړ شو ؟

ورته ومې ويل: تر هاوای وړاندې د لږې مودې لپاره همدلته دمه کوو، غاړه مې ترې تاوه او د خوب په تخت کې وغزېدو.

پوهېږئ په دې دمه کې څومره خوند و؟ دومره خوند چې د عمر ټوله ستړيا يې را تسکين کړه.

پای




چاپ چارې: د مومند خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه -ننګرهار
۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱/۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱
momand.books@gmail.com